مورچل

دیارلسم کال، لومړی، پرلپسې۱۲۵مه گڼه،
جمادی الأولی ۱۴۴۰هق جنوري۲۰۱۹م

" طالب وسله واک ځواک"

ته دې د دایمي اړتیا په توګه وګتل شي

مونږ د مثبت تعامل نوې صفحه پرانیستې چې له مخې یې د متقابل احترام په اساس له هرچا سره ښې اړیکې غواړو.

د افغانستان د اسلامي امارت له ویاند ذبیح اللّه مجاهد سره د شرق الاوسط ورځپاڼې مرکه

- فاریاب، هلته چې د کبرجن دښمن غرور مات شو!
- ولس ولې د اسلامي امارت محکمو ته ترجیح ورکوي ؟!
- په طاغوت دبروسې انجام !!
- ولې د کابل د اداري سره مذاکرات نه شي کېدای؟!
- اشرف غني ولې د امریکا او طالبانو له مذاکراتو وېره لري؟!
- کلیساوې پلورل کېږي !!
- غني ربستیا د نجیب غوندې آزار لري...؟!

پیشرفت در مذاکرات

وسرایملی اداره، کابل

مورچل

علمي، سياسي او جهادي مياشتنۍ خپرونه

دیارلسم کال لومړۍ، پرلپسې ۱۲۵مه گڼه، جمادی الأولی ۱۴۴۰هـق جنوري ۲۰۱۹م

لړليک

گڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله	۱
۲	د اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد سره مرکه	۲
۳	پیشرفت در مذاکرات و سراسیمگی اداره‌ء کابل	۹
۴	فاریاب هلته چې د کبرجن دښمن غرور مات شو	۱۲
۵	د بیان آزادي	۱۵
۶	ولس ولې د اسلامي امارت محکمو ته ترجیح ورکوي؟!	۲۰
۷	په طاغوت د بروسې انجام	۲۱
۸	ولې د کابل د اداړې سره مذاکرت نه شي کیدای؟!	۲۴
۹	د طالبانو د پوځي او سیاسي بریا احساس	۲۶
۱۰	د دوحې مذاکرات؛ قریبه فتحه او وارخطاء لاسپوڅې	۲۸
۱۱	اشرف غني ولې د امریکا او طالبانو له مذاکراتو وېره لري؟	۳۳
۱۲	کلیساوې پلورل کېږي	۳۵
۱۳	غني رښتیا د نجیب غوندې آزار لري؟	۴۰
۱۴	د اسلام غزوات او سرایا	۴۲
۱۵	د۲۰۱۹م کال د جنوري میاشتې جنګي جنایتونه)	۴۷
۱۶	د مورچل وړمې	۵۰
۱۷	د ۲۰۱۹م کال د جنوري میاشتې جهادي خبرونه	۵۲

د امتیاز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

صلاح الدین "صارم"

کتنپلاوی

حسن خپل — ایوب صافی
حسن زوی — حکمت بغلانی
زبیر مسافر — حافظ سعید

تخنیکي چارې

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: morchalmorchal@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

"طالب وسله واک ځواک"

ته دې د دايمي اړتيا په توګه وکتل شي

په هيواد کې، د هيواد دسياسي جرياناتو، تودو مذاکراتو او په سخته سړه هواکې پوځي بريووته په کتو، بلکې دهيواد داشغال په وړاندې دمسلح جهاد په بريالي کېدو داسې انګېرل کيږي، چې د هيواد د دوو لسيزو اوږده قضيه به يوطرف ته شي.

دا چې زعامت به دچا او بين الافغاني مذاکرات به کله او څنګه وي ؟! دراتلونکي خبرې دي، که څه هم ابهام نه شته او حقدار معلوم دی، ولې دلاښه راتلونکي لپاره بيا هم دغه ډول مسائل دراتلونکي مسائل ګڼلی شو.خو کوم څه چې دتل لپاره يې اړتيا بولو او اسلامي امارت ته حياتي ارزښت لري او ستون فقرات يې ګڼل کيږي، هغه " طالب وسله وال ځواک" تل ترتله په خپل حال مسلح پاته کېدل دي .

دا ورځې چې هر هر څوک او بېلابېل جهتونه دهيواد دراتلونکي لپاره د ګټو نظامونو طرحې جوړوي، خو هغه څه چې داسلامي امارت حياتي کردار دی هغه همدا دی چې که نظام هر ډول جوړوي، خو د " طالب وسله وال ځواک" په خپل حال پاتېدنه به يې دراتلونکي امن او مصؤنيت لپاره دتضمين په ډول ترټولو مهم اصل وي .

له تېرو تجربو، سختو کړاوونو، او سترو ننګونو څخه راوتلی ازمول شوی دخپلواکۍ او استقلال متضمن هغه قوت دی چې نور ازمويل نه غواړي او دهيواد دخپلواکۍ او استقلال ساتنې لپاره ضامن ځواک دی په راتلونکې هره شېبه کې ورته اړتيا ده او تر پرته دهيڅ بري او خپلواکۍ تضمين نه شي کېدای .

داقوت به دنظام ساتنه کوي او يواځينۍ قوه به وي چې دنظام اصول او قوانين به تنفيذولی شي .

داسلامي انقلاب دبري او ارمانونو د ساتنې متضمن دغه قوت ته دې د دايمي اړتيا په توګه وکتل شي او دراتلونکي لپاره دې په هر ګام پورته کولو کې دغه ټکی له پامه ونه غورځول شي .

د افغانستان د اسلامي امارت له ویاند

ذبیح اللّه مجاهد سره د شرق الاوسط ورځپاڼې مرکه :

مونږ دمثبت تعامل نوې صفحه پرانیستې چې له مخې یې دمتقابل احترام په اساس له هرچاسره ښې اړیکې غواړو .

- امریکایان به اشغال پای ته رسوي او د داعشي فتنه ګرو له ملاتړه به لاس‌اخلي.
- دسیمي هیوادونه دې له مونږ څخه داسې ملاتړ وکړي لکه دشوروي اشغال په مهال یې چې کړی و.

درنو لوستونکو! د افغانستان د اسلامی امارت ویاند محترم ذبیح الله (مجاهد) صاحب د افغانستان د وروستیو تحولاتو په اړه له شرق الاوسط نړیوالې ورځپاڼې سره تفصیلي مرکه کړې چې په کې د مطرح شویو سیاسي موضوعاتو د اهمیت له وجې یې مونږ پښتو متن له تاسو سره شریکوو. په درنښت. اداره

پوښتنه : اشرف غني درته د مخامخ خبرو بلنه درکړې ایا له نوموړي سره خبرې کوئ؟ له امریکایي استازي خلیلزاد سره مو د ناستې او له پښتانه او سُني اشرف غني څخه مو د انکار په اړه څه نظر دی ؟

ځواب : مونږ په تاکید سره ویلي چې د کابل اداره دکوم نظام په ډول په رسمیت نه منو او نه هم په هغو مسائلو بحث ورسره کوو، چې په دوی پورې اړه نه لري اونه یې په اړه صلاحیت لري، ځکه اوس مونږ له امریکایانو سره د اشغال د پای ته رسولو په خبرو بوخت یو. تش په نامه اسلامیت د اعتبار وړ نه دی، بلکې واقعي اسلامیت هغه دی چې د ا

شغالګرو کافرانو له ملاتړه لاس واخیستل شي، د مسلمانانو د شتمنیو تحفظ وکړل شي، بې لارې منصرینو ته د مسلمانانو د منحرف کولو په غرض د همکاري زمینه مساعده نه کړل شي.واقعي مسلمان هغه دی، چې په کړو وړو کې یې د اسلامیت آثار ښکاره شي. له خلیلزاد سره ځکه مونږ خبرې کوو چې هغه د اشغالګرو اصلي استازی دی.د هغه برعکس اشرف غني د امریکایانو یو محلی مزدور دی، چې پر افغان ولس یې تحمیل کړی دی.ځکه نو اشرف غني او د هغه رژیم یوه فرعي ستونزه ده چې د اشغال تر خاتمي وروسته یې افغانان په خپل منځ کې حل کولای شي.

پوښتنه : په تېر اختر کې مونږ داسې انځورونه ولیدل چې طالبان او د کابل حکومت عسکر په ډېره خوښۍ یوله بل سره تر غاړې کېدل، ایا دا شوني ده چې یو مهال د کابل حکومت چارواکي او د طالبانو مسؤلین هم په دغسي یوه چلند کې سره ولیدل شي سره؟

ځواب: د کابل رژیم عسکر د ولس هغه نیستمن او تنګ لاسي ځوانان دي چې فقط د یوې ګولې ډوډۍ پیدا کولو لپاره د هغوی لیکو ته ورغلي، او ور ته د طالبانو په اړه ناسم تبلیغات شوي دي.د اختر په اوربند کې د یوه فرصت په توګه دا زمینه مساعده شوه چې هماغو تیر ایستل شویو عسکرو طالبان په خپلو سترګو ولیدل، چې ډیر ښه تأثریې تري واخیست او د هغه تأثر په نتیجه کې یې تر اوربند وروسته ډیره مرسته له طالبانو سره وکړه.اما د رژیم لوړ پوړي چارواکي داسې نه دي؛ بلکې هغوی د غرب له فکره متأثرشوي او د هغه تأثر پر اساس عملا د اشغالګرو ترڅنګ په لوړو دندو کې کار کوي، ځکه هغوی معذور نه بلل کیږي .خو که همدا چارواکي له خپلو جرمونو څخه لاس په سر شي او توبه وکاږي ، نو خامخا به زمونږ چلند هم ورسره ښه او له هغوی سره به د اسلامي شریعت په چوکاټ کې د وروری تعامل کوو.

پوښتنه : امریکایي استازي زلمي خلیلزاد تیره دوشنبه له نیویارک ټایمز ورځپاڼې سره په مرکه کې وویل چې له مونږ سره د کار د چوکاټ مسوده شته ده چې باید د هغې مطابق کار تمام او بیا وروانديې پرېکړه وکړو . نومورې زیاته کړه : طالبانو داسې ژمنې وکړې چې مونږ ترې خوښ یو، هغوی باید داسې څه وکړي چې افغانستان بیا د هغو ډلو او افرادو په ځاله بدل نه شي کوم چې په تروریستي کړنو کې ښکیل دي ، تاسو یې په اړه څه وایاست ؟

ځواب: له امریکایي جهت سره زمونږ خبرې روانې دي، امریکایي ځواکونه د اشغال په پای ته رسیدو باندې سلا شوي دي، مونږ هم په خپله خواکې دا ډاډ ورکړی چې د افغانستان له

خاورې څخه هیڅاته نه ضرر متوجه و اونه بـه لـه دې هیسته متوجه وي.مونږ د خپل دین او ولس د تحفظ لپاره هلې ځلې کوو، او په داسې څه بـه پرېکړه کوو چې په هغه کې مـو دینـي او وطنـي مصالح محفوظ وي.

پوښتنه :ایا ستاسي او امریکایانو تـرمنځ د اوربند، خـارجي ځواکونـو د وتلـو د مهـال ویـش ترڅنګ د بندیانو د تبادلې او افغانستان بیا ځلی د ترهګرو ډلو په ځای نه بدلیدو پـه څېـر داسې نور کوم لانجه من ټکي شته دي؟

ځواب :زمونږ اساسي مطلب لـه افغانسـتان څخه د بهرنیو ځواکونو پرشـاتګ دی پـر بهرنیـو ځواکونـو زمـونږ بریدونـه د هغـوی د پرشـاتګ اساسي وسیله ده، ځکه نو له څه پریکړې پرته لـه هغوی سره اوربند ناشونی دی.همدا ډول د هغـو بې ګناه افغانانو له بند څخه خوشې کـول اړیـن دي چې پـه ظلـم او جـبر سره لـه خپلـو کورونـو ایستل شـوي او مـودې مـودې پـه زنـدانونو کـې ساتل کیږي. له افغانستان څخـه هیڅاتـه خطـر متوجه نه دی اونـه هـم داسې کولـو تـه افغانـان اجازه ورکوي. نو زمونږ لخوا داسې ټکـی نـه دی پاتې چې حل شوی نـه وي، البتـه امریکایـان هـم پخپله اړخ کې ډېر مسئولیت لري، د اشغال پـای ته رسول، همدا ډول له داعشي فتنـه ګـرو څخـه حمایت نه کول چې زمـونږ هیـواد او سـیمې تـه د زیان رسولو اراده لري.همدا اوس له داعـش سره زمونږ د جګړې لومړۍ کرښې د امریکایي الوتکو لخوا بمبارۍ ، مونږ له امریکایانو دا غواړو چې هغوی د داعش له ملاتړه لاس واخلي تر څو مـونږ پـه خپـل هیـواد کـې د سـولې ، سـوکالۍ او بیـا رغونې ژوند پیل کړو.

پوښتنه: غربي ناظرین په افغانستان کـې د طالبـانو لخـوا پـر دولتـي ځواکونـو د بریـدونو د زیـاتوالي لامـل پوښـتي ، تاسـو یـي پـه اړه څـه وایاست؟

ځـواب : پـر داخـلي ځواکونـو زمـونږ د مجاهدینو د بریدونو زیـاتوالي لامـل دادی چـې همدا ځواکونه له امریکایانو سره په ملتیا د خپـل ولس په خلاف جنګیږي ، همدا ځواکونه دي چـې امریکایان یـې د وسـیلې پـه توګـه کـاروي او پـر ولسي خلګو باندې په هرو عملیـاتو کـې لـه دوی څخه استفاده کـوي، همـدا وجـه ده چـې د دوی تلفات هم ډېر دي او د مجاهدینو لخـوا پـه نښـه کیـږي هـم ډیـر. سره لـه دې چـې بهرنیـان لـه مجاهدینو سره له مخامخ کیدو څخه ځان ساتي ، او شمیر یې هم محدود دی خـو هغـوی بیـاهم د مجاهدینو لخوا ځاني او مالي تلفات ویني او وژل کیږي.

پوښـتنه : ایـا تاسـو لـه ګاونـډیو هیوادونـو څخـه مرسـتې ترلاسـه کـوئ ،خاصـتا پـه دې وروستیو کـې دا خـبرې اوریـدل کیـږي چـې لـه ایران سره مو اړیکې ډیرې ښې شوې دي؟

ځواب : مونږ خپل ګاونډیان او ټول مسلمانان دیته را بولو چې د امریکایانو خلاف زمونږ د جهاد داسي ملاتړ وکړي لکه د شوروي اشغال په مهال چې یې زمونږ ملاتړ کاوه ، خو له بده مرغه چې د امریکایي اشغال په مهال په دې اړه ډیر تقصیر لیدل کیږي.مونږ له ټولو هیوادونو څخه هیله لرو چې په دې اړه پرخپلو مواقفو باندې له سره غور وکړي او په هغه څه اقدام وکړي چې په هغه کې د مسلمانانو او همدا راز د ټولې سیمې مصلحت وي.زمونږ په بهرنیو اړیکو کې د ښه پرمختګ له وجې زمونږ اړیکې له ټولو ګاونډیانو او ټولې سیمې سره ښې شوې دي.

پوښتنه : تاسو په افغانستان کې پر څومره مساحت واکمنۍ لرئ؟

ځواب: مونږ تقریبا د هیواد په اکثریت تسلط لرو ، مجاهدین مود کابل په شمول هرځای شتون لري، حتی د رژیم په پوځي او دولتي مراکزو کې هم شتون لري.دښمن هم ډیر وخت پر هیواد باندې زمونږ د تسلط په اړه ارقام خپروي ، خو هغه ارقام متفاوت وي ، کله کم کله زیات ، ځکه هغوی د خپلو ځواکونو د مورال ساتلو په غرض دغه رویه غوره کوي ، خو مونږ ته د ارقامو په اړه د هغوي اعلان ارزښت نه لري، بلکې پر هغه واقعیت حساب کوو چې مونږ عملا پر خپلې خاورې تسلط لرو او چې هرځای وغواړو هلته عملیات کولای شو.

پوښتنه :په دې وروستیو کې مو له پاکستان او نورو لوریو څخه څومره زیاته مرسته تر لاسه کړې؟

ځواب: کاشکې داسې وای چې زمونږ ګاونډیانو له مونږ سره د اشغالګرو په خلاف زمونږ د ولسي مقاومت مرسته کولای ، زمونږ د اسلامي جهاد مرسته پر ټول اسلامي امت فرض

ده ، پـر افغانسـتان امریکـایي یرغـل د ټولـو مسـلمانانو خـلاف یرغـل دی ، دا یرغـل د هغـه دښمن لخوا یرغل دی، چې نه یـواځې افغانسـتان بلکې پر نورو اسلامي هیوادونو یې هم یرغل کړی دی، همـدا دښـمن دی چـې د مسـجد اقصـی د غاصبینو (یهودو) ملاتړ کوي او خپل سفارت یـې د یومیلیـارد مسـلمانو د غوښـتنو خـلاف بیـت المقدس ښار ته نقل کړ.مونږ دا سوال کـوو چـې مسلمان چیرته دی چې د همدي ظالمو یرغلګـرو پـه مقابـل کـې د افغانسـتان او فلسـطین د مسلمانانو مرسته وکړي؟د ټولې نړۍ مسـلمانان باید د اشغال په مقابل کې زمونږ مرسته وکـړي ، دغـه مرسـته د هغـوی پـه مصـلحت ده ، دا مصلحت کـه یـې دنیـایي مصـلحت دی او کـه د آخرت .

پوښتنه : تاسـو ولـې لـه امریکایـانو سره د خبرو لپاره قطر هیواد غوره کړی ، ولې په اماراتو او یا سعودي کې ورسره خبرې نه کوئ؟

ځواب: په اماراتو کې مو هـم خـبري کـړې خو دا چې قطر هیواد مو د سیاسي دفـتر کوربـه دی، نو ځکه مو ډیرې خبرې هلته تر سره کیږي.

پوښتنه ایا سـعودي عربسـتان (د حرمینـو شریفینو) ځمکه به په افغانستان کې د جګړې د پایته رسیدو د پربکړې لپاره وروستی ټاکل شوی هیواد نه وی ؟

ځواب : د حرمینو شریفینو ځمکه (سعودی عربستان) د هرمسلمان لپاره شرف دی، که اړتیـا ولیـدل شي او طـرفین وغـواړي پـه سـعودي عربستان کې هـم ناسـته کیـدلی شي، خـوداچې نهایي پریکړه به کله کیږي، تر اوسـه معلومـه نـه ده.

پوښتنه: ایا نور به هم د اوربند په اړه چـې پـه مـذاکراتو کـې یونانـدرییز تکـی د فـروري د میاشتې په ۲۵خبرې کیږي او تاسو به بیـاهم تـر اوربند وړاندې له افغانستان څخه د ټولو بهرنیو ځواکونو د وتلو غوښتنه کوئ؟

ځواب : تر څـو چـې مـو پـه هیـواد کـې یـو بهرني محارب پوځي وي په خلاف بـه یـې زمـونږ جهاد جاري وي.د اوربند په اړه خبره د وقت پـه اړه نه بلکې د مبدء او اساس په اړه ده ، اوربند د دښمن لخوا د جهاد د توقف د وسیلې پـه حیـث کارول کیږي که خدای مکړه جهـاد متوقـف شي بیا دښمن له افغانستانه نه وزي .

پوښتنه : ایا تاسو نور د افغانستان د اوولس کلنې جګړې پایته رسیدو ته خوشبین یاستئ؟

ځواب : هو ! مونږ نور په افغانسـتان کـې د تحمیلې جګړې د پایته رسیدو په اړه متفـاول یـو ،مونږ له مجاهدینو سره د الله په نصرت باور لرو ، او دا مـو د ایـمان برخـه ده .زمـونږ مشر- امیـر المؤمنین ملا محمد عمر (مجاهد) رحمـه اللـه د

اشـغال پـه اوائلـو کـې دا خـبره کـړې وه چـې ((امریکـا زمـونږ د شکسـت خـبره کـړي او الـله تعالی مو د بریالیتوب ، نو وبـه گـورو چـې د چـا خـبره رښـتیا کیږي.))الـله تعـالی د شـوروي اشغالگرو په مقابل کې هم مونږ ته بریـالیتوب را نصیب کړی و ، هماغـه لـوی خـدای بـه راتـه پـر امریکایانو هم د غلبې توفیق راکوي.

پوښـتنه : ایـا د ایـراني حکومـت پـه منځګړیتوب له کابل حکومت سره خبرې کوئ؟

ځواب: تر اشـغال ختمیـدو وروسـته ټـولې چارې داخلي دي چې هـیڅ بهـرني منځګړیتـوب ته ورکي ضرورت نه پیدا کیږي، افغانـان د خپلـو کورنیو ستونزو د هواري لپـاره د مرکـو او جرګـو ښه ترتیب لري چې هغه ډیرې مـؤثرې او فعـالې دی ، فقط دلته ټول مشکل بهرنی اشغال دی.

پوښتنه : که ایران د فاطمي لښکر ملیشې افغانستان ته راولي ستاسي موقف به یې په اړه څه وي؟

ځواب: لومړی خو مونږ تراوسه د ایران لخوا داسـې کومـه اراده نـه ده محسـوس کـړی، بل اساسا اسلامي امارت هیڅکله په خپـل هیـواد کـې داسـې تشـکیلات نـه منـي، چـې هغـه د افغانستان د مشروعي دفاع له چوکات څخه بهـر وي او نه هغـوی تـه پـه خپلـه خـاوره کـې اجـازه ورکوي .

پوښتنه : کابل حکومـت تـه نـږدي حلقـات وایي چې ایراني حکومت د افغانستان په لویـدیځ کې ستاسې له وجود سره په دې مخالفت نه لري چې له هغه نه پـه اسـتفادې سره د هلمنـد د رود اوبه دوی تر لاسه کړي.

ځواب : د کابل حکومت ته له تشو تبلیغاتو پرته نورڅه نشي کولای یواځې همدا ې پـه تـوان کې دي. اسلامي امارت په افغانستان کې د خپل سیاسي او پوځي ثقل له مخـې یـو مطـرح جهـت دی ، د افغانستان ټـول ګاونـډیان پـه دې خـوښ دي چې طالبان د هغوی له پولو سره نیږدي وي ، ځکه هغوی د طالبـانو پـه نظـم او کنټـرول بـاور لـري ، او پـوهیږي چـې طالبـان د ګاونـډیانو پـه شمول هیچاته هم ګواښ نه دي.

پوښتنه . د ایران پخـواني ولسمشر- محمـد خاتمي په خپلو څرګندونو کې ویلي چـې ایـران د طالبانو د له منځه وړلـو پـه غـرض لـه امریکـایي ځواکونو سره مرسـته کـړې ، تاسـو پـه تیـرو څـو کلونو کې د ایران رول ته په کومه سترګه ګورئ؟

ځواب : ډیرو هیوادونو لـه امریکایـانو سره د افغانستان د اشـغال پـر مهـال مرسـته وکـړه ، خپله خـاوره ، خپلـه فضـا او خپـل میدانونـه یـې هغوی ته په واک کې ورکړل ، حتی له بـده مرغـه چـې د سـیمې ځینـو هیوادونـو خپـل پـوځي او استخباراتي کارکوونکي هم د ایتلافي ځواکونو په لیکو کې افغانستان ته را ولیږل او دلته یې خپـل

مسلمان وروڼه شهيدان کړل.خو الله تعالى د حق مرستندوی دی ، د امریکا له ټول قوت سره مونږ نن ورباندې غالبه یو ، اوس مونږ له هرچا سره د مثبت تعامل نوي صفحه پرانیستي .مونږ به اوس له هرچاسره د همدې نوي صفحې له مخې تعامل کوو او له هرچاسره به د متقابل احترام پر اساس ښې اړیکې غواړو.

پوښتنه : د ایران د بهرنیو چارو وزارت وایي چې دوی د طالبانو له استازیو سره خبرې کړې ، دا خبرې په څه اړه وي؟

ځواب : اسلامي امارت اوس هغه واقعیت دی چې له پامه غورځول یې ناشوني دی ، ګاونډیان هم د دغه واقعیت پراساس له اسلامي امارت سره تعامل ته اړ دي .ټول هیوادونه خپل مصالح لري چې د هغود خوندیتوب لپاره کار کوي ، د ایران او اسلامي امارت د استازیو ترمنځ تر سره شوي خبرې هم د طرفینو د مصالحو د خوندیتوب پر اساس وي .

پوښتنه: د ایران ځینې شنونکي په دې نظر دي چې له افغانستان څخه د امریکایانو پرشاتګ به پر ایران باندې د امریکا د برید احتمال زیات کړي ، تاسو د ایران او امریکا ترمنځ راتلونکی ترینګلي وضعیت په اړه څه وایاست؟

ځواب : په افغانستان کې امریکایي اشغالګر د افغانستان په شمول د ګاونډیانو او ټولې سیمې لپاره خطر او ګواښ دی ، په عین شکل له افغانستان څخه د اشغالګرو وتل د افغانستان ، د هغه د ګاونډ او ټول سیمې لپاره د خطر د ختمېدو په معنا دی .زما په نظر د امریکا او ایران ترمنځ پوځي تصادم فکر نه کوم ، ځکه امریکایان اصلا غواړي د بندیزونو او نورو فشارونو په وسیله د ایران نظام له داخله له منّځه یوسي، نه د مخامخ جګړې په وسیله ، ځکه که جګړه یې ترمنځ پیښه شي بیا یې کنټرولول د ټولو له توانه وزي.

پوښتنه : تاسو څو فیصده په مذاکراتو کې د امریکایي پرشاتګ په اړه د هغوی د وړاندیزونو له جدیت څخه باوري یاستی؟

ځواب : مونږ سل په سلو کې پر دې باوري یو چې الله تعالى به مو حتما د اشغالګرو خلاف جګړه کې بریالي کوي.الله تعالى په خپلې ژمنې باندې ښه وفا کوونکی دی، الله تعالى له مؤمنانو سره په خپل نصرت وعده کړې ، او له باطل سره یې د شکست وعده.امریکایان د هیڅ باور خلګ نه دي ، ځکه هغوی زمونږ خلګ شهیدان کړي ، کلي یې را بمبار کړي ، ځوانان یې را بندیان کړي او مونږ یې ډیر ځورولي یو.خو اوس په دې باور لرو چې هغوی به حتما زمونږ له هیواده شرمیدلي وزي ، ځکه هغوی تر مونږ وړاندي د الله په نزد د جنګ اعلان کړی .. چې الله به یې حتما ذلیل کوي ... ان شاء الله.

پیشرفت در مذاکرات
و سراسیمگی اداره‌ء کابل

حبیبی سمنگانی

تـرددی نمانـده اسـت کـه اداره‌ء کابـل از پیشرفـت مـذاکرات و گفتگوهـا میـان طالبـان و امریکایی ها هرگز راضی نیست. به ویژه پس از نشست شش روزه‌ء نمایندگان طالبان و امریکا در قطر از ۲۱ تا ۲٦ جنوری ۲۰۱۹ میلادی، اضطراب و نگرانـی هـای سران و مقامـات ایـن اداره بـه اوج رسیده است. سخنان اشرف غنی پس از دیدار او با زلمی خلیلزاد در کابل، بیانگر وخامت و تیرگی وضعیت او بود. او با دل گرفتگیِ بسیار، از سازمان ملل متحد گله داشت که وعده‌ء خود را در قبال داکتر نجیب الله وفا نکرد، گویا او به وعده های ملل متحد و دیگر نهادهای جهانی فریب نمی خورد و راه و چاره ای برای خود می سنجد.

سراسیمگی اداره‌ء کابل ازینست که طالبان با وصف پیشرفت زیادی در گفتگوها (حتی توافق اجمالـی بـر خـروج کامـل نیروهـای خـارجی از افغانستان) هنوز آماده نشده اند که با نمایندگان ایـن اداره بنشـینند. از سـوی دیگـر، گفتـه هـای خلیلزاد و راپورهـای رسانه هـای غربـی نشان مـی دهد که حالا جهت امریکایی نیـز بـر منطقـی بـودن این موقف طالبان اعتراف دارند که گفتگو با اداره‌ء کابـل پـیش از تعیـین ضرب الاجـل بـرای خـروج نیروهای خارجی، معنای ندارد.

موقـف طالبـان از بـدو مـذاکرات اینسـت کـه اداره‌ء کابل طرف واقعی در جنگ کنونی افغانستان نیست، بلکه امریکایی ها بـرای اهـداف اسـتعماری خود، از آن به حیث ابزار استفاده می کنند.

واقعیت اینست که اداره‌ء کابل نه تنها اعتبار و پشتوانه‌ء مردمی نـدارد، بلکـه در اثـر جـدال هـا و کشمکش های داخلی خـود بـه ده هـا پارچـه تبـدیل شده است. ٦ نفر مهم این رژیم (رئیس جمهـور و دو معاون/رئیس اجرائی و دو معـاون) فعـلا در سـه تکـت انتخابـاتی قـرار گرفتـه، و در برابـر یکـدیگر صـف بسـته انـد. عبدالرشـید دوسـتم (معـاون اول

غنی) عملاً و محمد محقق (معاون اول عبدالله) رسماً معزول هستند. اما رئیس بی چارهء رژیم توانایی این را ندارد که پلان و فرمان خود را بر آن ها اجرا بکند.

تمام سران و مقامات رژیم با هم دست و گریبان اند و هیچ یکی از پارچه های از هم گسیختهء رژیم کابل استعداد و قدرت این را ندارد که وارد گفتگو با صف واحد، متحد و قدرت مند طالبان شود و در مورد آیندهء کشور تصمیم بگیرد. چنانچه ملا شیر محمد عباس ستانکزیی، معاون دفتر سیاسی امارت اسلامی در قطر در مصاحبهء اخیر خود با «نن تکی آسیا» گفته است :

«شما از دولت حرف می زنید، از نگاه ما اصلا دولتی در افغانستان وجود ندارد. ادارهء را که امریکا ایجاد کرده ادارهء فاسد است و هرگز از مردم افغانستان نمایندگی نمی تواند. شما می بینید، حرف های اشرف غنی را نه تنها اقوام و احزاب سیاسی کشور بلکه وزرای کابینهء او نیز رد می کنند. این اداره به هیچ صورت توانایی این را ندارد که به نمایندگی از افغانستان با کسی گفتگو بکند».

بلی، طالبان به صراحت می گویند که هیچگاه خواهان انحصار قدرت نیستند و از انحصارگرایی خودداری می کنند، طالبان خواهان ایجاد چنان نظام اسلامی، مستقل و همه شمول هستند که برای تمام اقشار جامعهء افغانی اعم از قشرهای قومی، لسانی، سمتی و مذهبی آغوش باز داشته باشد و به هیچگونه تبعیض، تعصب و برتری قائل نباشد.

درین راستا، طالبان آمادهء گفتگو با همه احزاب و شخصیت های سیاسی و مذهبی کشور هستند، بلکه عملا گام های جدی برداشته اند. چنانچه ستانکزیی صاحب در مصاحبهء خود ضمن اینکه از تفاهم با جهت های داخلی کشور اطمینان داد، گفت : «به اطمینان می توانم گفت که شاید هیچ حزب سیاسی کشور نبوده باشد که با کلان ها و افراد آن ندیده باشیم. حتی مسائل زیادی را حل کرده ایم و همه احزاب سیاسی و قومی کشور بر این چند نکته اتفاق دارند که افغانستان باید آزاد و مستقل باشد، همه نیروهای خارجی از افغانستان بیرون شوند و نظام اسلامی در کشور ما حاکم گردد».

ادارهء کابل همه توانایی خود را به خرج داده است تا پروسهء مذاکرات میان طالبان و امریکا به نتیجه ای نرسد، زیرا بقای خود را در ناکامی این پروسه می بیند. واقعیت اینست که ادارهء از کار رفته و از پا ماندهء کابل، بجای که افادیت خود را برای جهان و مردم افغانستان ثابت بسازد، همواره خود را برای جامعهء جهانی ناگزیر جلوه می دهد. در حالی که نام افغانستان از سال ها به این سو، در سرفهرست کشورهای فاسد جهان جا دارد. چنانچه سازمان شفافیت بین الملل (Transparency International) در راپور تازهء سالانهء خود (که به

تاریخ۲۰ جنوری ۲۰۱۹م منتشر شد) افغانستان را باز هم در ردیف ده فاسد ترین کشورهای جهان قرار داده است.

در ظاهر، اداره‌ء کابل از عدم گفتگوی طالبان با این اداره، شاکی و عصبانی است. اما در حقیقت، مقامات این اداره اصلا نمی خواهند نیروهای خارجی به ویژه امریکایی از افغانستان به گونه‌ء کامل بروند. زیرا چنانکه سال گذشته، اشرف غنی در مصاحبه با تلویزیون سی بی اس امریکا گفته بود « بدون کمک امریکا نمی توانند شش ماه هم تاب بیاورند» ، این واقعیت هنوز هم به حال خود باقیست. وابستگان اداره‌ء کابل می دانند که نظامیان شان بدون حمایت امریکایی ها در میادین جنگ، هرگز تاب مقاومت در برابر طالبان را ندارند.

پس ازینکه همه تلاش های منفی اداره‌ء کابل در برابر پروسه‌ء مذاکرات ناکام ماند، اشرف غنی نامه‌ء محرمانه ای به دونالد ترامپ، رئیس جمهور امریکا فرستاده است. نیویارک تایمز در گذارش خود خبر داده است که اشرف غنی روز سه شنبه (۲۹ جنوری) این نامه را از دست الیس ویلز، معاون وزیر خارجه‌ء امریکا روان کرده است. غنی توسط این نامه از ترامپ تقاضا کرده است که نظامیان امریکایی افغانستان را ترک نکنند. او به ترامپ مشوره داده است که بجای خروج سراسری نیروهای امریکایی از افغانستان، باید مصارف امریکا در افغانستان دو ملیارد دالر کاهش داده شود و نیز شمار نیروهای امریکایی به سه هزار نفر پایین آورده شود.

این مکتوب ننگین و ذلت بار اشرف غنی باز هم روشن می سازد که مقامات اداره‌ء کابل اصلا تصور هم نمی توانند که نظامیان امریکایی از حمایت آن ها دست بگیرند. بنابرین افغان ها می دانند که اداره‌ء کابل هرگز طرفدار صلحی نیست که به نرخ خروج نظامیان خارجی از افغانستان تمام شود. هدف اداره‌ء مزدور کابل از امضای پیمان امنیتی با امریکا نیز ابقای نیروهای امریکایی در افغانستان بود. مقامات این اداره هنوز هم آماده هستند برای تضمین بقای اداره‌ء لنگ و لاش خود، هر سند و پیمان فروش این کشور را با کشوری امضا بکنند. اما زخم های اداره‌ء کابل به سرطانی تبدیل شده است که مداوای آن را هیچ کشوری بدوش گرفته نمی تواند.

از سوی دیگر، دونالد ترامپ نیز وقت زیادی ندارد. در سال بعدی، قرار است که او بار دیگر وارد کارزار انتخابات ریاست جمهوری شود. ترامپ می داند با پایان دادن جنگ افغانستان، می تواند حدود پنجاه ملیارد دالری را که در افغانستان خرج می کند، در عرصه های رفاهی و انکشافی در داخل امریکا مصرف بکند. نیز می تواند پایان بخشیدن طولانی ترین جنگ تاریخ امریکا را دست آورد مهم دوره‌ء ریاست جمهوری خود بخواند و به مردم امریکا نشان بدهد که به وعده های انتخابات گذشته، وفا کرده است.

فاریاب،
هلته چې د کبرجن دښمن غرور مات شو

أبوعابد

فاریاب د افغانستان له شمالي ولایاتو څخه دی چې په وروستیو کلونو کې د جهاد ګرم ډګر پاته شوی دی. په دې ولایت کې مجاهدین په ګڼو ولسوالیو بشپړ تسلط او په ډیرو نورو تر نیمایي زیات واک او کنترول لري.څرنګه چې سږ کال د ژمي په موسم کې هم د اسلامي امارت د مجاهدینو عملیاتي بهیر خورا ګړندی روان و، بل اړخ ته په سیاسي او مطبوعاتي ډګر کې د اسلامي امارت بریاوو د کابل ګوډاګي رژیم له سخت فشار او اغیزمن حالت سره مخ کړ، نو اشرف غني د خپلې کمزورۍ د جبیرې او په مطبوعاتو کې د غوغا جوړولو لپاره د وروستۍ هڅې په دود خپل دوه پخواني ناکام چارواکي امر الله صالح او اسدالله خالد د کورنیو او دفاع وزارت د وزیرانو په حیث وټاکل.

اسدالله خالد چې د اشغالګرو امریکایانو له خورا نږدې جاسوسانو او ګوډاګیانو څخه دی، د دفاع وزارت د واک ترلاسه کولو په مراسمو کې یې په خورا کبرجنه او غرورآمیزه لهجه مجاهدینو ته ګواښونه وکړل او خپلو ټوپکیانو ته یې دا شعار وټاکه چې (سر یې وهو او سنګر یې نیسو)

د دې لپاره چې اسدالله خالد او د ده امریکایي بادار جنرال سکاټ میلر خپل پوځي کش و پش مطبوعاتو ته وښیي او تر یوه حده خپلو پلویانو ته روحیه ورکړي نو د پوځي نمایش او تبلیغاتي مانور لپاره یې د فاریاب ولایت وټاکه. اشغالګرو او ګوډاګیانو د یوه پلان له مخې فاریاب ولایت ته د ګڼو ځواکونو لیږل پیل کړل، دغه راز د روان لمریز کال د جدي په ۱۷ نیټه امریکایي جنرال سکاټ میلر او د دفاع وزیر اسدالله خالد هم دې ولایت ته لاړل چې په بدرګه یې د مزار شریف د ۲۰۹ شاهین قول اردو ګڼ ځواکونه، د سرحدي لوا عسکر او د شمال زون د نظم عامه ګڼ شمیر ځواکونه هم د سلګونو ټانګونو او پوځي وسایطو په بدرګه فاریاب ته ورسیدل تر څو د اسدالله خالد او سکاټ میلر د خودنمایي په جشن او مراسمو کې ګډون وکړي. له ځمکنیو ځواکونو علاوه ګڼ شمیر امریکایي عسکر د هوا له لارې فاریاب ته لاړل او د فاریاب په هوا کې د امریکا الوتکو په غومبرو او شورماشور جوړولو سره یې د دښمن دغه د قدرت نمایي مراسم بدرګه کول.

میلر او خالد په فاریاب کې د (ایثار۱۰) په نوم پوځي عملیات اعلان کړل، په ځینو ولسي-سیمو یې هوایي بریدونه پیل کړل او په رسنیو کې یې لاپې ووهلې چې فاریاب په بشپړ ډول تر خپل کنترول لاندې راولي. فاریاب ته راغلیو ځواکونو ځو ورځې د اسدالله خالد په قومنده آخو دیخوا منډې رامنډې وکړې، خو کومه د پام وړ بریا یې ترلاسه نه کړه، له یوه هفته خواریو وروسته د میلر او خالد په لښکرو شکست ګډ شو، د شاهین قول اردو، سرحدي لوا او نظم عامه ځواکونه له پوره وارخطایي سره له فاریابه په تیښته شول. خو په همدې حال کې مجاهدینو د یوه ځانګړي تاکتیک له مخې داسې خونړي بریدونه ورباندې ترسره کړل چې د دښمن دغو مجهزو قواوو ته یې خورا درانه زیانونه واړول.

د اسلامي امارت د ویاند قاري محمد یوسف احمدي د راپور له مخې د فاریاب ولایت دشیرین تګاب ولسوالۍ اړوند د دښت په سیمه کې د یرغلګرو او مزدور دښمن پر هغه موټریز کاروان داسلامي امارت مجاهدینو پراخ وسلوال بریدونه ترسره کړل چې دفاریاب ولایت له مرکز میمنې نه بیرته د مزارشریف پرلوري روان ؤ. بریدونه چې پکې سپکې اودرنې وسلې وکارول شوي د مابنام تر ۷ بجو پورې یې دوام وکړ. دبریدونو په پایله کې ۴۰ عرادي ټانګونه ، موټر او انټرنیشنل موټر په بشپړه توګه سوځول شوي او ۳۰ عرادي نورموټراو ټانګونه تخریب شوي دي. په پښنه کې تر ۲۰ تنه زیات مزدور عسکر اوکمانډویان

قتل شوي چې د ۵ وژل شویو جسدونه یې دجګړې په ډګر پاتې شوي دي او ۳۰ تنه نور یې ژوبل شوي دي.

په همدې ورځ د فاریاب د یادې پیښې اړوند مستند شواهد، ویډیوګانې او د سوځولو شوي پوځي کتار انځورونه په ټولنیزو شبکو کې په پراخه کچه خپاره شول. ازادو خبریالانو او رسنیو ولیکل چې فاریاب ته تللی د شاهین قول اردو لښکر په بشپړ دول تس نس شوی او د ۷۰ په شاوخوا کې وسائط یې له منځه تللي. دغه پیښه دومره ستره وه چې حتی دښمن هم وربانديې اعتراف وکړ د فاریاب د ولایتي شوری غړی عبدالباقي هاشمي رسنیو ته وویل چې طالبانو د پنځوس په شاوخوا کې پوځي ټانګان سوځولي. ده وویل چې حکومتي اړخ ته دومره زیات تلفات ځکه رسیدلي چې د دې پوځي کتار په سر کې کوم موټر خراب شوی او لار یې بنده کړې وه، طالبانو په داسې حال کې هجوم راوړ چې پوځي کتار بند پاته وو نو ځکه دولتي عسکرو ته خورا درانه تلفات ورسیدل.

ځینو رسنیو خبر ورکړ چې طالبانو په دې سیمه کې د ځمکنیو ماینونه یو داسې جال غوړولی و چې کله د دښمن کتار ورته راورسیدل نو په یو ځای انفجار سره یې اکثره وسایط وسوځول او یا قسما تخریب شول. خو په هر حال. . د شیرین تګاب د فیض اباد دښت په سیمه کې د شاهین قول اردو د مکمل پوځي کتار له منځه تګ د الخندق عملیاتو یوه خورا ستره او دښمن ځپونکي بریا وو.

په همدې وخت کې د فاریاب د عملیاتو او د میلر او خالد د پوځي غورځو پرځو په مهال د دښمن شاوخوا ۱۸ نور ټانګونه هم په بیلابیلو چاودنو او بریدونو کې له منځه لاړل. د دې درنو تلفاتو له تحمل سره د میلر او خالد د ایثار ۱۰ په نوم عملیات او د قدرت نمایش نه یوازې ناکام بلکې په رسوایي بدل شو.

اسدالله خالد چې په خپل لومړني ولایتي سفر کې فاریاب ته د (سر یې وهو او سنګر یې نیسو) له شعار سره تللی و، الله تعالی داسې وشرماوو چې بیا یې کله هم دغه شعار په خوله رانه ووړ او د فاریاب د عملیاتو ټول داستان یې هیر او له خولې وغورځاوه.

د فاریاب وروستی حادثې وښوده، چې د کبر جام نسکور او عاقبت یې یوازې رسوایي و. اسدالله خالد خورا له غرور او لاپو سره دې ولایت ته تللی و، خو الله تعالی په عبرت انګیز ډول داسې درانه زیانونه ورپیښ کړل چې له بلخه راغوښتې قوه یې مکمله له منځه لاړه او د قدرت نمایش یې په لویه رسوایی او سرټیټی بدل شو.

د بيان آزادي...!!

مولوي عبدالله سائل

د بيان آزادي اصلاً يوه وسيله ده چې په دي سره د حق خاوند خپل ږغ د واکمن ترغوږونو پوري رسوي، د دغه تعريف پر بنا د بيان آزادي د هر انسان يو مشروع او روا حق بلل کيږي.

د بيان آزادي چې د نظر آزادي هم ورته ويله کيږي؛ د بشري حقونو په نړيوال قانون کې په رسميت پيژندل شوی بشري حق دی.

د اسلام مقدس دين ۱۴۰۰ کاله وړاندې د بيان او نظر آزادي ته معترف او تر ټولو ښه مثال يې مونږ د امير المؤمنين په هغې وينا کې ليدلی شو چې نوموړي د هغې ښځې د انتقاد په ځواب کې وفرمايل چې «اصابت امرأة و أخطأ عمر ..»

حقيقت دا دی چې په اسلام کې تر بل هر اسماني او غير آسماني دين زيات د بشر حق ته زيات اهميت ورکول شوی او تر ټولو بيا زيات د حريت او خپلواکۍ، حق ورکول شوی دی.

چې په دې کې د بيان آزادي هم راځي چې د بشر يو مسلم حق بلل شو دی. مگر سره له دې هم نن سبا په دنيا کې د غرب ديمکراتيکي آزادۍ ته ځيني خلک د بيان آزادي وايي او زمونږ اسلام په دې تورنوي چې اسلام کې د بيان آزادي نشته. خو حقيقت داسي نه دی.

په اسلام کې د بيان او فکر آزادي دوارې شته خو په شرعي مقرراتو مقيدې دي.

مثلا په اسلام کې تر داخليدو وړاندې هرانسان ته حق ورکړل شوی چې هردين غوره کوي الله تعالی فرمايي : لا اکراه فی الدين ...

خو کله چې يوځـوک مسـلمان شي ، بيـا يـې عقيده، نظر، بيان او فکر ټول په شرعي محدوده کـې را ايساريږي، هغه بيا نشي کولای لـه اسـلام نـه بهـر کومه عقيده ولـري، يـا نظـر ورکـړي او يـا هـم څـه ووايي.

د بيان آزادي چې په عربي مصطلح کې ورتـه حرية التعبير، حريـة الـرأی او حريـة المعتقـد ويـل کيږي؛ په سيکولرزم کې مطلق (ازاد) او په اسلام کې مقيد دي .

مګر کومه معاصره د بيان آزادي اصطلاح چې کاريږي؛ هغه د سيکولريزم (لادينيت) له اصـولو يـو اصل او هيڅ ډول قيد او قيود نه مني.

همدغه لا محدوديت يې لـه اسـلامي قيوداتـو سره په ټکر کې دی؛ ځکه هـيڅ مسـلمان دا حـق نـه لري چې د اسلام له دينـه پرتـه بلـه عقيـده او نظريـه ځان ته غوره او يا هم داسې بيان وکړي چې هغه لـه اسلامي اساساتو سره په مغايرت کې وي.

يو بل شی چې د پام وړ دی؛ هغـه دا چـې پـه اسلام کې چې هرڅه بشر ته ورکول شـوي او يـا تـر منـع کـړل شـوی؛ هغـه صرف د بشـريت د ګټـي او نقصـان پـر آسـاس وي، د اسـلامي فقهـي عمـومي قانون دی چې وايی « د الهـي اوامـرو او نـواهي وو دواړو دارومدار د انسانانو پر نفع او نقصان موقـوف وي» د بيان آزادي هـم بشرتـه ترهغـه بريـده ورکـول شوي چې د ده په خير وي، چيري چې يـې پـه ضرر وي هلته اسلام تري منع کړی.

نو که له دغې نګاه ورته ځير شو، نو په اسـلام کې چې کومه آزادي شته، هغه د غـربي دموکراسـی تر آزادۍ ډېره ګټوره او د بشريت په خير ده.

نـن سـبا پـه نـړۍ کـی يـو بـل ډول آزادي هم شتون لري

دا د بيان هغه آزادي ده چې معيار يی د حاکم شخص پر مزاج وي، په دی مانا چې په هرڅـه چـې دغه حاکم خوشحاليږي؛ د هغه د بيانولو اجازه وي، او پـه کومـه وينـا چـې حـاکم خفـه کيـږي د هغـه څرګندول ممنوع وي. پرته له دې چـې د نبـه او بـد معيار يې، پر اسلامي اخلاقـي او نـورو منـل شـويو بشـري نورمونـو بانـدي و ارزول شي. چـی دا ډول آزادي بيا د ظلم او استبداد زيږوونکې ده.

چې دا هم د مطلقې آزادۍ په ځيـر د بشـريت په خير نه ده، خو نن سبا پـه نـړۍ کـې رواج دي، او خلک يې په پټه خوله او ترلو سترګو تعقيبوي.

مګـر اسـلامی شريعـت لکـه څنګـه چـې مـو مخکې يادونه وکړه؛ د يوې داسې آزادي درلودونکی دی چی نه مطلقه او نه مقيده ده، بلکـه داسي آزادي چی معيار يي پر اخلاقي، ديني او انساني ارزښـتونو

ولاړ وي، نه د واکمنو پر مزاج او نه د لادینت او یا سیکولرزم پر بې بندوباره اصولو.

یعني شریعت هر انسان ته د وینا حق ورکړی خو په دې شرط چې پر نورو به په ژبه نا حقه تیری نه کوي، او د وینا د آزادۍ په پوښ کې به د نورو عیبونه نه لټوي، قذف، دروغ او ښکنځلي به نه کوي، بلکې پخپلې رایې او وینا سره به خلک په نیکۍ سره نیکو ته را بولي.

د لویدیځوالو په ډیموکراسۍ کې هم د بیان د ازادۍ په نوم یو اصل شتون لري، مگر هغه په ټوله مانا داسي نه دی چې یو مظلوم دې د هغه په وسیله خپل حق وغوښتلای شي، بلکه له واقعي حق غوښتني پرته، هر څوک پرته له کوم قید و شرطه د خپلې رایې اظهار کولا شي.

یعني مطلقه ازادي یې په هغه برخه کې انسان ته ورکړي چې هغه پخپل ذات کې د بشر په نفع نه وي، بلکي دا بیان که روا او که ناروا وي، حق وي او که باطل خو هغه یې باید څرگندونه وکړي.

متاسفانه چې دا ډول ازادي نن سبا د مسلمانانو په هغو هیوادونو کې چې د غربې دموکراسۍ په تقلید نظامونه ورکې حاکم دي؟ په ښکاره لیدل کیږي چې خلک یوازي د باطل د اظهارولو حق لري او بس، او که څوک د حق رایه اظهار کړي هغه له وژلو، ترټلو، شړلو او ډول ډول تهدیدونو سره مخ کیږي.

اسلام نه دا چه د بیان د ازادۍ پلوي کوي بلکې هغه یو عبادت بولي او اظهار ته یې خلک تشویقوي، که څه هم هغه د یوظالم حاکم په مخکې خبره کول وي. « اِن من اعظم الجهاد کلمة حق عند سلطان جائر» الحدیث. یعنې غوره جهاد د ظالم باچا په وړاندي د حق خبره کول دی.

د بیان د آزادۍ په لاره کې محدودیتونه:

څرنگه چې د بیان آزادي یو ثابت حق دی، دا رنگه یې محدودیت هم منل شوی اصل دی، آزادي په دې مانا نه چې یو څوک دې هر څه چې زړه یې غواړي بیان کړي، حق او باطل باید سره بیل کړي، داسې بیان نه وي چې تاوتریخوالې، سپکاوي، شخصیت وژنه، په فکري لحاظ ټولنه منحرف کول او داسي نور... پکښې وي. یعني په مجموع کې هیڅ قانون کې هم مطلقه د بیان آزادي نشته، بلکې د یو لړ قانوني حدودو او ضوابطو په رنا کې د ټولو لپاره منل شوې ده.

نړیوال قانون چې د بیان د آزادۍ پر مطلقیت باندې ټینگار هم کوي؛ بیا هم وایي چې د ولتونه د بیان د آزادۍ په هکله بشپړه آزادي نه لري، خو یوه حل لاره وړاندې کوي، د دې حل لارې پر بنسټ حکومتونه کولی شي چې د ټولنې له فرهنگ او

دودونو سره سم تر یو بریده د بیان آزادي محدوده کړي خو ځانګړو شرایطو او اوضاع ته په کتو سره چې د بیان آزادۍ مفهوم له منځ ولاړ نشي، دغه محدودیت د قانو مطابق او له اړتیاوو سره سم وضع شي.

په اسلام کې مسلمانان د بیان آزادۍ حق لري خو د یو لړ حدودو په رنا کې چې انساني او اسلامي ارزښتونو باندې تېری ونه شي، او محدودیتونه د دې لپاره وضع کړي چې په نه رعایت کولو سره په ټولنه کې کلتوري ګډوډۍ راځي او انساني ارزښتونه تر پښو لاندې کیږي، لکه: د مقدساتو توهین، د وګړو رسوا کول، د شخصي اسرارو افشاء کول او یا داسي نور...

د اسلامي هیوادونو د بشر د حقوقو نړیواله اعلامیه هم پر یو لړ شرایطو ټینګار کوي، ناوړه استفاده، مقدساتو ته سپکاوی، په ټولنه کې د شته ارزښتونو ګډوډول، د ټولنې بې ثباتي او د عقایدو تیت پرک کول منع دي.

د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال میثاق هم بیان آزادي د مسوولیتونو په لرلو سره د قانوني اړتیاوو ته کتو یو لړ محدودیتونو تابع کړې ده، لکه: د نورو حقوقو ته احترام، د ملي امنیت ګټو، د عامه نظم او عمومي اخلاقو ساتنه کول.

د دواړو ترمنځ توپیر

د اسلام په دین کي « افضل الجهاد کلمة حق عند سلطان جائر» د بیان د آزادۍ یو ښه اصل دی.

او دا چې په احادیثو کې د جرحې او تعدیل اساس او وربانديي تعامل خپله د بیان د ازادۍ په معنا ده.

همداراز د فقهای کرامو اختلافات هم موږ او تاسو ته دا راښیي چې خپل نظر په ازاده فضاء کې بې له کوم تردید نه وړاندي کړو.

خو هغه څه ويـل چـي ورځخـه اشخاصـو يـا ټـولنې تـه زيـان اوړي؛ اسـلامي اقـدارو او دينـي ارزښتونو ته د سپکاوی کيږي، د مـلي اشخاصـو او ملي ارزښتونو د توهين سبب کيږي؛ په مجموع کـي د بيان ازادي نشي بلـل کيـدای، بلکـي دا يـوه فتنـه بلل کيږي، چې په حديث شريف کې ورځخـه منـع راغلې: « الفتنة نائمة لعن الله من ايقضها»

اما برعکس په غربي دموکراسۍ کـې بيـا دغـه ډول قيودات مطرح نه دي بلکي په دې برخه کې هـر ډول وينا ته د بيان آزادي وايي، خو هغه بيـان چـې د دوی له ګټو سره په ټکر کې وي؛ هغـه تـه دوی هـم اجازه نه ورکوي او نا قانونه يې ګڼي.

مثلاً دوی د آزادۍ د لاري مجاهد ته ترهګر او د خپلواکۍ مبـارزې تـه ترهګـري وايـی او اسـلامي احکامات د تروريزم په تور لغو کوي. او په دې اړه د دوی لخوا د بيان آزادي ته اجازه نشته.

همدارنګه په غربي دمکراسـۍ کـې د فحشـاء خپرولو ته هم د بيان آزادي ويلي کيږي، خو د اسلام لـه نظـره د هغـه بيـانول مـردود او نارواعمـل دی، « ماکان محمد فاحشاً ولا متفحشاً»

خلاصه:

د پورتنيو مختصرو تشريحاتو په رڼا کـې مـوږ ويلای شو چې د بيان آزادي موږ د خپل نظام لپاره د يوې ثابتې پاليسۍ له مخې د يو منل شوي اصـل پـه توګه پيژنو خو په ټولو هغو معيارونو نه، چـې غـرب ورته وضع کړي، او فقط د اسـلامي ارزښـتونو د لـه منځه وړلو لپاره ترې کار اخلي.

د يوې اسلامي ټولنې په حيث، موږ بايد داسي آزادي ولرو چې يو رعيت او يا يو مظلـوم پـه آزادانـه ډول له حاکم او يا بل ظالم څخه خپل حق د بيـان د آزادۍ په وسيله ترلاسه کړای شي.

او دومـره آزادي نـه وي چـې پروپيګنـډه تـرې جوړه شي ، حق او نا حق پکې مالوم نشي، د حـاکم حيثيت پکې پايمال شی د رعيـت او راعـي تـرمنځ د عزت اهميت له منځـه ولاړ شي او ټولنـه د آنارشـۍ خوا ته سوق شي.

د عمر ابن الخطاب رضی اللـه دا قـول، چـې «اصابت امرأة و أخطأ عمر...» د بيان د آزادۍ په اړه د اسلامي شريعت يو ډېر ستر اصل بلل کيږي، چې مسلمانان يې بايد د يو لارښود په حيث غوره کـړي. هم ويناوال ته د وينا آزاد حق ورکوي، او هـم حـاکم د هغـه اوريـدلو او تسـلميدلو تـه متوجـه کـوي، همدارنګه له ناسمي وينا څخه خلـک منـع کـوي او حاکم ته هم د دې اختيار ثابتوي چـې د وينـاوال پـر ناسمه وينا يې محدوديت وضع کړي.

ولس ولې د اسلامي امارت محکمو ته ترجیح ورکوي؟!

سید شریف

داسلامي امارت د حاکمیت په زرینه دوره کي شریعت تطبیق و،امنیت تامین و،عدالت حاکم و، غلاوي نه وې،غصب نه و،تعصب نه و، فساد محوه و،سود نه و،رشوت نه و،یعني په ټوله کي داسلامي امارت ترسلطې لاندي سیمو کي دخلګو سر،مال،عزت او حقوق په مثالي ډول خوندي وو.همدارنګه او س چې کومې سیمې داسلامي امارت په واک کې دي،مثالي امنیت او عدالت پکې تامین دی.

پر افغانستان دامریکا له یرغل سره ولس له هراړخیز کړاو او ځور سره لاس اوګریوان شو،د افغان ولس دوژلو،کړولو،بندي کولو او کور نړلو پراخه لړۍ پیل شوه،تعصب،تبعیض،غصب،چور او تالان،اخلاقي فساد،فحشاء،سود(رباء) او اداري فساد دومره پرمختګ وکړ چې افغانستان په نړیواله کچه لومړي،دوهم او دریم مقام ته پکې پورته شو.

ولس په سختو حالاتو کي هم د اسلامي امارت محاکمو ته مراجعه کوي،نه یوازي د هغو سیمو خلګ چې د اسلامي امارت تر واک لاندي دي،بلکي د هغو سیمو خلک هم داسلامي امارت عدلي او قضایي ارګانونو ته ترجیح ورکوي چې د کابل رژیم تروا‌ک لاندي سیمو کي اوسي.

د کابل رژیم د عدلي او قضایي ارګانونو پر فساد غربي چارواکي هم معترف دي، د نیو یارک ټایمز د یو راپور په حواله امریکا دکابل رژیم پرعدلي او قضایي بنسټونو یو ملیارد ډالر مصرف کړي،د قاضیانو او څارنوالانو دروزني لپاره یې مختلف کورسونه دایر کړي،خو فساد کم شوی څه چې ورځ تربلې پیاوړی شوی دی.

د کابل رژیم د بېلابیلو ارګانونو منسوبین هم مني چې خلګو درژیم پر قضایي او عدلي ارګانونو باور له لاسه ورکړی،دهیواد په بیلابیلو سیمو کي خلګ د رژیم دمحاکمو په پرتله دطالبانو محکمو ته ترجیح ورکوي.

داچې ولې خلګ دکابل رژیم په پرتله د اسلامي امارت محکمو ته ترجیح ورکوي،ځواب یې د خلګو په ژبه په دې ډول دی چې دکابل رژیم په محاکمو کي په کلونو کلونو منډي ووهي،رشوتونه تري واخیستل شي،خو بیا یې هم قضیه لا ینحله پاته وي،اما کله چې یې دطالبانو محکمو ته مراجعه کړي،په لنډ وخت کي یې بې له فساد څخه قضیه حل شوې او حق وخپل حقدار ته رسیدلی دی.

افغان ولس داسلامي امارت د حاکمیت په ارمان دی، ځکه په اسلامي امارت کي هر څه دسپېڅلي شریعت په تله تلل کیږي،دکمزوري او بډای توپیر نشته،احکام،قوانین او فرامین پر ټولو یو شان تطبیقیږي.

په طاغوت دبروسې انجام!!

خبير احمد

دپخواني شوروي اتحاد مشهور حلقه بگوش غلام [حفيظ الله امين] چې دکمونيزم دبريا اودکريملين دخوشحالولو لپاره يې زرگونه مظلوم افغانان له تيغه تيرکړل ، وئيل کيږي چې کله روسانو وغوښتل خپل دغه تاليځپي نور له صحني ليري او ژوند ته يې دپای ټکی کيږدي يوې ډلي روسي کومايندويانو دکابل په دارالامان مانې کې په هغه بريد وکړ ، دروسي عسکرو دبريد په شيبوکې امين دخپل گارد قومندان ته ووئيل

زما خيال ده امپرياليستانو (امريکايانو) اوياد هغوئ اجيران په مونږ اوتاسي حمله کړي ؛ نو ژر شه اوپه عاجل ډول خپلو رفيقانو (انترناسونياليستانو – روسانو) سره تماس ونيسه او هغوئ له جريان څخه خبرکړي ترڅو نجات راکړي.

حفيظ الله امين ته خپل محافظ قومندان ووئيل : جناب حمله کوونکي زمونږ خپل رفيقان انترناسونياليستان دي !!!!؟

په ۲۰۰۱ کال کې هم چې کله امريکايانو په افغانستان يرغل پيل کړ او دخپل وحشت اوبربريت ټول جنگي ماشين يې دافغانانو وژلو او ځپلو لپاره اړم کړی و او دبې باون له جبه خانو يې شپه ورځ زرگونه بمونه را ورول ؛ دشمال ټلوالي سپين ژيرو پروفيسرانو او جنرالانو پرهغو لا هم زړه نه يخيده له امريکايانو يې مسلسله غوښتنه داوه چې بمونه مو واړه او چنداني کارنده نه دي نورهم غټ اودرانه بمونه په افغانانو وغورځوی.

خوداسې وخت هم راغی چې امريکايانو خپل دغه (پيش مرگان) يو يو له صحني وويستل دپنجشير په سوړوکې يې غلا کړي

وسلي اومهمات ټول ترې را ټول اوبيايې دبګرام په هوايي ميدان کې له منځه يووړل

خپله دقومندان عطا اعتراف دی چې امريکايانو له ټلوالي څخه دپيپسي په څيراستفاده وکړه جوس يې وڅښل اوبوتل يې اخوا وغورځاوه

له کرزي هم امريکانوترهغو استفاده وکړه او له مکاري حنجري اومداريتوب څخه يې ګټه اخيسته چې اړتيايې ورته ليدله کله به چې کرزي امريکا اوغرب ته دوري کولي دهغوئ مشهورو ورځپاڼو اوخياطانو به حتی دکرزي دلباس ، چپني اوقراقولی نه ستړی کيدونکي صفتونه کول اودغرب اوامريکا له هربنسټ څخه به دکرزي لپاره اعزازي ستاينلکونه او افتخاري ډګری را وريدي خو چې امريکايانو له کرزي اوشمال ټلوالي بهتر غوړه مالان او غلامان ومونډل نو ځای پرځای يې ترينه مخ واړاوه کرزی ، جعلی مارشالان اوجنرالان يې يو يو په فساد، درغليو ، ناسم مديريت بشريت ضد جرمونواونورو تورونو تورن او په غوږ کې يې ورته ووئيل چې نورځغلی وخت مو تيراودنوکری موده موپای ته رسيدلي

کرزی اوټلواله هم چې کله په ځانو و پوهيدل چې امريکا ته دوه توته ارزښت هم نلري نو په امريکايانو يې بيدريغه نيوکي اواعتراضونه پيل کړل چې ګواکې امريکايان زمونږ دوستان ندی دافغانانو له غمه اودرده دلته ندي راغلي بلکي خپلي ګټې اوخټې يې مطلب دی.

اوس کرزی اودشمال ټلوالي يو مشر هم اجازه نلري چې امريکا ته سفر وکړي.

دامريکايانو مفکر اشرف غني چې په ۲۰۱۴ کال کې دقدرت ګدی ته ورسول شو دهغه دافکروو چې له کرزي اوټلوالي څومره ډيره چاپړوسي او غلامی امريکا ته وکړي عمراوپاداش به يې زياتيږی

اشرف او ګل مرجان ارګ ته له ننوتلو سره سم په ۲۴ ساعته کې تصميم ونيوه چې دافغانستان دخرڅلاو قباله دامنيتي ټرون په شکل کې لاسليک کړي او امريکايانو ته يې وسپاري

اشرف غني ،ګل مرجان ، مجددي ، پير ، سياف ، خليلي اوقيام الدين کشاف امريکايی پوځيانو ته دهرډول فعاليت اووحشت اجازه په لاس ورکړي په داسې ډول که امريکايانو څومره افغانان وژني نوش جان يې، خو که کوم افغان امريکايی باندي دتوپک شپيلی راتاو کړه اوعسکر يې وواژه هغه افغان به خامخا محاکمه کيږي

اشرف غنـي څـو قدمـه نـور وړانـدي ولاړ دادارو په سرکې يې ټـول هغـه اشـخاص وګـمارل چې افغانی الاصله امریکان ول او يالـه امریکـايي پوهنتونوڅخه فارغ شوي وو

داشرف غنـي پـه مـوده کـې چـې څـومره افغانان دهـوايي بمبـاريو او شـپنيو عمليـاتو پـه نتيجه شهيدان شـول يـوه ورځ هـم مفکـر ! پـرې نيوکه ونکړه غوږونه يې پرې مړه اوکاڼه واچول

خو دټرمپ دبيلابيلو جنګـي سـتراتيژيو لـه شکست اوپرشاتمبيدو ورسـته ټرمـپ خپـل بـل غـلام خليلـزاد تـه قومنـده ورکـړه چـې نـور دافغانستان جګړي اودرنو لګښتونو زړه ورخوړلی او داتمـه چـې طالبـان بـه پـه زوره مـات کـړي داهسې يوخيـال ده، نـو امريکاامـاده ده چـې دطالبانو هرډول غوښتنو ته غاړه کيږدي اوديتـه زمينـه سـازي وکـړي چـې لـه افغانسـتان څخـه امريکايي پوځيان راوويستل شي

خليلزاد دکابل رژيم په ټولو بوغو اوکريغـو پښه کيښوده مخـامخ قطـر تـه ولاړ اولـه طالـب استاځو سره يې دهغوئ په خوښه مذاکرات پيـل کړل.

اشرف غني چې هرڅومره کوشش وويسـت چې دسولي خبري بائيد دکابل رژيم په مالکيت کـې تـرسره شي او طالبـان ړومبـی لـه دوئ سره خبري وکړي خليلزاد ورته ووئيل چې نـور ددغـو خبرو وخت تيرشوی امريکايـان عاجـل سـولييز حل غواړي او خپل پوځيـان ويسـتل غـواړي اوس ددې وخت رارسيدلی چې دسولي اوروغي لپـاره قربـانی ورکـړل شي اوقربـانی داده چـې خپلـه بستره دې نوره ټوله وه

اشرف غنـي يـو پـټ ليـک هـم ټرمـپ تـه واستاوه چې دافغانستان ټول معدنيات اوزيرمي دې درنه ځاراوقربان شي خـو پليـز چـې پوځيـان ونه باسي سـتاله تـګ سره بـه مـونږ ټـول دمـرګ کومي ته وغورځيږو ؛ ولې ټرمپ ورته دومره هـم حاضر نشو چې دخپل دغـه زاړه اوپرسـوده نـوکر ليک ولولي ، ځواب خو يې پرځای پريږده

داسـې هـم وئيـل کيـږي چـې اشرف غنـي دخليلزاد او نورو امريکايی چارواکو څخه مکـرره غوښـتنه کـړي چـې ټرمـپ سره ملاقـات وکـړي اوامريکي ته ورسي، خو دټرمپ خـواب منفـي او ځواب يې دادی چې مونږ پـه کابـل کـې سـفارت لرو اشرف غني دې له سفير سره خبري وکړي.

نـو ځکـه وايـو چـې څـوک پـه طـاغوت او خارجي يرغلګرو تکيه کوي حال احـوال اوانجـام به يې دتيرو څلويښتو کلونو په اوږدو کې دروس اوامريکا دتاليځټو اوغلامانو لکه [ترکـی ، بـبرک کارغل ، حفيظ الله لئين ، نجيب ګـاو ، ربـانی ، کرزی ، اشرف غني ، ګـل مرجـان اونـورو.....] په څيروي !

فاعتبرو ياأولی الابصار

ولې د کابل د اداري سره مذاکرات نه شي کېدای؟!

قاري سعید خوستی

د دې پوښتنه یوه ساده ځواب دی چې موږ وایو دا دولت خپلواک نه دی او د اشغال ترچتر لاندې جوړ شوی خو یو د دې پوښتنې حقوقي اړخ دی. حقوقي اړخ په دې معنی چې په دې کار وروسته کوم معنوي او فزیکي اثرات مرتب کیدای شي؟

په افغانستان کې د ثور له کودیتا وروسته په پرلپسې ډول وینې بهیږي، روسي مزدورانو د لینن د فکر د ترویج لپاره په لکونو افغانان ووژل په لکونو یې له وطن څخه تېښتې ته اړ کړل، لکونه یې معیوب کړل ځکه د دوی شعار دا ؤ چې د هیواد په درې برخې وګړو کې که دوه برخې ستاسې د فکر مخالف وي، هغه ووژنئ او دا یوه برخه بس ده چې تاسې ته پاتې شي او تاسې پرې واک وچلوی.

امریکایانو اتلس کاله هر ډول زور ازمایي وکړه خو دا ملت یې ایل نه کړای شو چې بالاخره امریکایان مجبور شول چې له خپلو ارزښتونو تیر شي او د یوې داسې ډلې سره خبرو ته کینې چې دوی اتلس کاله ترهګره بلله. د مذاکراتو ابتدایي پایلې جوتوي چې امریکایانو له افغانستان څخه د ټولو ځواکونو په وتلو توافق کړی خو د امریکایانو له وتلو وروسته د کابل د اداري سره باید څه وشي؟

خلیلزاد په طالبانو له څو لوریو د فشارونو هڅه وکړه چې د طالبانو سره د خبرو په اجنډا کې د افغان دولت سره مخامخ مذاکرات هم ځای کړي خو د اسلامي امارت مشران هیڅ ډول فشار ته تسلیم نه شول او ښاغلي ذبیح الله مجاهد په یوه رسمي اعلامیه کې له دې کوابښ وروسته چې که خلیلزاد خپلو ناروا فشارونو ته دوام ورکړي، د سولې دورازه به په ځان وټړي، خلیلزاد مجبور شو چې قطر ته وخوځیږي او په ټاکل شوی اجنډا له دوی سره خبرې وکړي.

د کرزي په وخت کې هم هغه ډیر زور وواهه چې طالبان مجبوره کړي چې د کرزي د اداري سره خبرې وکړي خو د طالبانو دریځ دا ؤ چې د کابل د

اداري سره خبرې نه شي کيدای بلکې خبرې به له هغه چا سره کوي چې د دوی نظام يې نړولی او دا جګړه يې لومړی پيل کړې.

د طالبانو د دومره چنه زنی او فشارونو سره مقابله په دې دليل وه چې دلته دوه شيان ډير مهم دي:

(۱) که د کابل اداره د دوی په لاس جوړ شوي اساسي قانون په ترازو کې واچول شي له رئيس جمهور نيولې تر پارلمان ټول نامشروع او غيرقانوني دی، اشرف غني د جان کيري له لورې وټاکل شو، اجرائيه رياست د اساسي قانون په خلاف رامنځ ته شو، ټول وزارتونه د سرپرستانو له لورې اداره کيږي چې د سرپرستۍ له قانوني ټاکلي مودې کلونه تيريږي، د پارلمان قانوني دوره دوه کاله وړاندې پوره شوې، ولايتونه د سرپرستانو له لورې اداره کيږي، بهرنيو چارو وزير دوه کاله وړاندې د پارلمان له لورې سلب صلاحيت شو خو وزير دندې ته دوام ورکوي. بناءا له دې نامشروع او غيرقانوني دولت سره خبرې کول افغانستان په هغه لور سوق کول دی چې دا اولس کاله پرې روان دی، ناقانونيت، فاشيزم، فساد، زورواکي او هم په حقوقي ډول که ورسره کوم سند لاسليک کيږي د اعتبار وړ نه دی ځکه د نامشروع جهت سره پروتوکول اعتبار نه لري.

(۲) اسلامي امارت اتلس کاله د امريکايانو او د هغوي د ملګرو په وړاندې سپيڅلې مبارزه کړې او دا مبارزه په ديني لحاظ جهاد بلل کيږي او د نړيوالو پرينسيپونو په تله کې له ځان د (سيلف ډيفانس) يا د تيرې په وړاندې له ځانه د دفاع حق په نوم پيژندل کيږي چې هر وګړی حق لري چې له ځانه دفاع وکړي معنی دا چې اسلامي امارت چې اتلس کاله څومره قرباني ورکړې هغه يې د ازادۍ په لار کې ورکړې او دا مبارزه يې منل شوی حق ؤ خو که کابل اداره د اسلامي امارت سره د مذاکراتو چوکاټ ته د دولت له ادرسه داخليږي او طالبانو هم دا ومني نو بيا دا په اتومات ډول د کابل اداري په رسميت پيژندل دی چې په نړيوالو اصولو کې بيا طالب د دولت په وړاندې يوه باغي وسله واله ډله بلل کيږي او اتلس کاله مقاومت يې د دولت په وړاندې بغاوت بلل کيږي چې له معنوي لحاظه دا په خپل جهاد او قربانيو د بطلان کرښه راکشول دی او له فزيکي لحاظه بيا که مذاکرات کامياب هم شي او سوله وشي راتلونکې دولتونه يا هم دا دولت په قانوني لحاظ حق لري چې په راتلونکې کې د اسلامي امارت مشران د محکمې ميز ته راکش کړي چې دوی د هيواد د مشروع نظام په وړاندې بغاوت کړی ؤ.

همدا دليل دی چې اسلامي امارت د کابل اداري سره د دولت له ادرسه مذاکرات نه کوي اما د کابل د اداري له ټولو منسوبينو سره د يو افغان په حيث مذاکراتو ته تيار دی په شرط د دې چې د دولت له چوکاټه راووځي.

د ارزښتونو په دې جګړه کې د خپلو ارزښتونو د خوندیتابه په هيله

د طالبانو د پوځي او سياسي بريا احساس..

بهيرافغان

اتلس کاله پرلپسې ظلمونو، وحشتونو او مرګونو وروسته بشکاري دامريکا ولسمشر(ډونلډ ټرمپ) دانتخابي کمپاين پرمهال د کړې ژمنې سره سم له افغانستانه دامريکايي ځواکونو په ويستلوکې جدي اوقاطع تصميم لري

که څه مهم دامريکا دپوځ ځيي جنرالان او دکانګريس يوشميرغړي له افغانستانه د ټولوځواکونو ويستلو په اړه دټرمپ د پريکړې مخالف دي، ليکن ټرمپ دهغوی دمخالفت پې پروا دی اوکلک هوډ لري چې هرځومره ژرکيدای شي له افغانستانه عسکر وباسي اوروانه جګړه پای ته ورسوي

۱۸کاله وړاندې دافغانستان اسلامي امارت چې دهيواد په ۹۵ سلنه خاوره واکمن و،امريکا سره دخبرو او مذاکراتو دلارې دشته ستونزو دحل غوښتونکی واوددې لپاره يې د امريکادهغه وخت حکومت ته يې دمذاکراتو بلنه ورکړې وه چې دجنګ پر ځای دخبرو او مذاکرات ميزته کينئ اوپرافغانستان ديرغل کولو تاريخي تيروتنه مه کوی

داچې هغه مهال امريکا دغرور،تکبراو قوت په نشه کې مسته او ليونۍ وه داسلامي امارت د بلنې اوغوښتنې په ځواب کې د کوم مثبت غبرګون ښودوپرځای يې دټولو نړيوالو اصولو او مقرراتو نه په بشکاره سرغړونه په افغانستان دوحشيانه اوظالمانه يرغل اوجنايت ارتکاب وکړ، چې دادی دهغه وروسته اتلس کاله تير شول بيا هم دامريکا دبري هيڅ څرک نه بشکاري او دجګړې له املە ورته بې حساب مالي او ځاني زيانونه واوښتل او په تاريخ کې په لومړي ځل دامريکا اقتصاد دقوي ضعف او رکود سره مخ شو او دجګړې دشدت او دوام له ډاره يې دپوځ په ليکو کې دځان وژنې سلنه تړاړونکي بريده لوړه شوه

دافغانستان او سيمې دچاوکارپوهانوپه اند: دامريکا ولسمشر ټرمپ په افغانستان کې دامريکا دبري په اړه زيات نهيلی دی هغه احساسوي چې ځواکونو يې طالبان مات نکړای شول او طالبان هغسي غښتلی اوفعال شتون لري چې ورځ تر ورځې مخ پروړاندې روان دي اودافغانستان

دخاورې دنيمائي څخه زياته سلنه هم ترواک لاندې لري .

دکتونکو په نظر ديته په کتو طالبان تربل هروخت اوس دسياسي اوپوځي پلوه دبرياوود احساس برخمن دي او هم دامريکا سره دهمدې قوي احساس له ليده خبرې کوي، فکر کيده چې په سياسي محاذ کې به طالبان هغومره پياوړي او فعال نه وي څومره چې نور دي خو دمذاکراتو روان جريان اوپه غونډو کې دهغوی بيباک ګډون وشوده چې دپوځي ډګر ټرځنګ په سياسي جهت هم طالبان تجربه کار اشخاص او په کارپوه غړي لري ، دقطر په دوحه کې دامريکا او د دوی ترمنځ خبرې ترشېرو ورځې وغځيدي خوبياهم هغوی ستوماني حس نکړه او نه دامريکاڅخه مرعوب شول اوترپايه پخپل دريځ اوغوښتنه ولاړ پاته شول چې دا په سياسي محاذ دهغوی دبري احساس جوتوي

دا چې ټرمپ له افغانستانه ولې دځواکونو ويستلو په اړه دومره جدي او قاطع دريځ لري؟ دچارو کارپوهانوپه نظرټرمپ ديو سوداګرپه حيث پوهيږي چې اوسنی روان جنګ دامريکا لپاره سراسرزيان دی ،هره مياشت امريکا پري په سوونو مليونه ډالرمصرفوي خو نتيجه يې دصفرپرته بله نه راوځي،دهغه دانګيرنه چې داپيسې بايد بيرته خپل هيواد کې دخلکو په ترقۍ او هوساينې ولګول شي دغه وجه ده چې دامريکا دخلکو ډيره لويه سلنه دهغه د دريځ نه ننګه او ملاتړ کوي

نو اړتيا ده چې دامريکا دوتلو له فرصت نه طالبان اوهم افغان ولس خپل راتلونکي مسؤليتونه په ښه توګه درک کړي، زکه پوهيږو چې يوشمير جګړه ماران چې خپل ژوند اوبقا د جنګ په لمبو کې ويني هغوی خامخا نه غواړي جګړه پای ته ورسي او ورته سوله دزغم وړنه ده همدا راز د سيمې ځيني خودغرضه هيوادونه هم دافغانستان دننه په جنګ کې خپلې شومې ګټې خوندي بولې هغوی هم دجنګ ددوام لپاره مختلفې دسيسې او حربې په کاراچوي څو افغانان ديوناورين څخه په خلاصيدو په بل واوړي،بناً احتياط اودقت بايد وشي هسې نه لکه دشوروي ځواکونووتلو وروسته چې افغانان په کورنيو جنګونو کې ښکېل شول چې بدمرغه پايلې ترننه افغان ولس کړوي نو کوښښ پکار دی چې دامريکا يې عسکرو دوتلو وروسته دکورنيو جګړودپيل مخه ونيول شي .

په دې لړکې دافغانستان اسلامي امارت مشران ځيراووسي څو دکورنيو جنګونو ناخوالې بيا تکرارنشي اﻩ په وړاندې يې په ښه پولادي عزم ګامونه واخلي زموږدديني ارشاداتوته په درناوي د خپلوملي ارزښتونو سره سم پريکړې اودجګړې دمخنيوي په برخه کې قاطع تصميمونه په پام کې ونيسي ازکه طالبانو ته دملت سترګې اوړي او هم يواځي د دوی نه ديو سوکاله او ودان افغانستان دجوړولو ټمه لري نور افغانان هم بايد خپلې شخصي- اودخپلو ډلو يا ګوندونو ګټې شاه ته وغورځوي او يواځي دداسلامي احکامو اوملي ګټو خوندیتابه ته په هرڅه لومړيتوب ورکړي او همدا د خپل ژوند نصب العين او مرام وټاکي ، د بهرنيو خودغرضو هيوادوو دچل وفريب په لومو کې دی ځانونه نه نښلوي او هم دافغانستان په کورنيو معاملاتو کې دهغوی دلاسونو دلنډولو لپاره دي ټول يوموټی او يو ځواک شي.

ځکه دافغان ولس ټول اوسنی قشر- چې هرسوچ، هرفکر اوهراند لري ليکن نور دجګړې څخه ستړي شوي اوغواړي چې دتل لپاره دجګړې اورونه مړه کاندي او دمرګونو او دردونو ناورين پای ته ورسي.

د دوحې مذاکرات؛

قریبه فتحه او وارخطا لاسپوڅې اداره

حسن مومند

”ماته دا ووایئ چې ده مورږ ته کوم ګټور کارکړیدی ؟

په افغانستان کې کوم دګټې کار شویدی ؟ جنرالانوچې رانه څومره پیسې غوښتلې ور مې کړې خو آیاپه افغانستان کې بریالیتوب ترلاسه شو؟ نه ښځې نه ! داکوم ښه کار نه و ؛ په افغانستان کې چې ده ،څه وکړل پر لیدلویې ځه هیڅ نه یم خوښ نو ځکه مې له دندې ګوښه کړ ؛ ځه پایلې غواړم.

داهغه جملې دي چې دنوي ۲۰۱۹م کال دړومبې میاشتې په ۳ مې نېټې دکابینې په غونډې کې دټولو وزیرانوپه شتون کې دامریکا ولسمشر ټرمپ دخپلې اداري دګوښه کړای شوي دفاع وزیرجیمز میټس په هکله دخپلې خولې نه راوویستلې.

ددسمبر په ۲۰مې نېټې جیمز میټس له خپلې دندې ګوښه شوی اویاپخپله مستعفي شوی و ؛ هغه مهال امریکایې رسنیو دا ویلي و چې ددفاع وزیرځکه له دندې لرې شوچې دافغانستان دستونزې په اړه یې د ولسمشرسره دنظر اختلاف درلودلو.

د ۱۹۸۰م نه پس دا ړومبی ځل دی چې کوم لوړپوړی چارواکی له دندې ګوښه اونېغ خپل کور ته ځي.

ډېرې شنونکي پدې نظر دي چې ټرمپ چې په انتخاباتو کې دافغانستان دجګړې ختمولو وعدې کولې رښتیا یې هم ددې جګړې ختمول غوښتل اودهغه دلیل دا وچې پدې جنګ هر کال په ملیاردونوډالر مصرفېږي ؛ دا دامریکا دتاریخ ترټولو اوږد جنګ وګرځېد خودکامیابې نښې پکې ښځې نه تر سترګو کېږي نوباید داجنګ بند اولوی

لګښتونه يې دامريکا په پرمختګ اورغاونه ولګول شي .

خو دامريکا ددفاع وزير جنرال جيمز ميټس ؛ لوی درستيزجنرال جان کيلي ؛دامنيتي چاروسلاکارجنرال ايچ آرميک ماسټراوپه افغانستان کې دامريکايې قواوو مشرجنرال نکولسن دټرمپ ددې پلان سره خپل مخالفت ښکاره کاوه او ټرمپ ته يې ويل چې دامريکايې ځواکونو دوتلونه پس به افغانستان دسخت دريځو په زاله بدل شي ؛ له جنګ ګټلو پرته له افغانستان نه وتل به په نړيواله سطحه امريکا له شرم سره مخامخ اوحيثيت ته به يې تاوان ورسوي ؛ له جنګ ګټلوپرته له ويتنام نه دراوتلوله امله چې امريکايې فوځيان سپک شول دلته به هم سپک شي او ترټولو مهمه داچې زموږ په لاس رامنځته شوې دکابل لاسپوڅې اداره به په څو ورځوکې دطالبانوپه لاس له منځه ولاړه شي .

د۲۰۱۷م کال دپيل ورځو کې ديادو جنرالانوتله درنده وه ؛ ټرمپ يې په خبرو تېروت نو يې دافغانستان نه دفوځونود راويستلو خبره شاته کړه ؛نوې ستراتېژي يې اعلان کړه ؛ افغانستان ته يې ۳زره نورفوځيان راواستول چې ورسره دامريکايې فوځيانو شمېر ۱۴زروته لوړشو؛ پرافغانانو دامريکايانو له لورې حملې زياتې شوې اوټرمپ دطالبانو دله منځه وړلو خبرې پيل کړې خود۲۰۱۷م تر دسمبره ټرمپ پدې پوه شوچې فوځي مشرانو ورته دروغ ويلي دي او د فوځيانو اوفوځي تجهيزاتوپه زياتولوهيڅ لاسته راوړنه نده رامنځته شوې نو يې دهمدې مياشتې د کابينې په يوې غونډې کې وويل چې ځه په افغانستان کې دفوځي مشرانوله فعاليت نه ،نه يم راضي ؛ طالبان لاهم جنګي قوت دی ؛ ګڼې سيمې يې په لاس کې دي اونفوذ يې پکې مخ پرزياتېدو دی.

بس دجنګ په اړه دامريکايې ولس په څېردټرمپ ناهيلي هم ورځ تربلې زياته شوه اوچې پدې پوه شوچې دجنګ دګټلوهيڅ چانس نه لري نويې مجبوراً دفوځونو دويستلوپرېکړه وکړه ځکه چې له دې پرته يې هيڅ بله لار نه درلودله نو داسلامي امارت درته دراتللو او دطالبانو ددرواځې ټکولوته اړ شوچې اسلامي امارت هم دا دخپل ملت په ګټه ښه فرصت وګڼلو اوترې دګټې پورته کولولپاره يې ښه په دقت او احتياط ګامونه پورته کړل .

په همدې لړکې دڅو مياشتو راهيسې چې دبهرنو اشغالګروځواکونو دوتلو او د

افغان غیور ملت د ارمانونو سره سم دهېواد دازادۍ او بشپړې خپلواکۍ په موخه دامریکایانو سره داسلامي امارت له لورې دمذاکراتو لړۍ روانه ده دقطر په مرکز دوحه کې دروانې جنورۍ میاشتې په ۲۱ مې نېټې پیل شوي مذاکرات چې ٦ ورځې یې دوام ومونډلو ددې لړۍ ترټولو اوږده مذاکرات و چې پکې دامریکایي او نورو بهرنو ځواکونو د وتلو سره په اړوندو ګڼو مسایلو خبرې وشوې او په باقي پاتې ناحل شویو مسایلو د بیا کیناستلو او خبرو کولو په توافق ددې میاشتې په ۲٦ مې نېټې پای ته ورسېدل.

دا ټولې نړۍ ته روښانه ده چې د۱۱ ستمبر دېښې سره افغانانو هیڅ ټراو نه درلود او نه پکې په کوم لحاظ ککړ وو؛امریکا چې پرافغانستان دیرغل لپاره همدا پېښه پلمه کوله نو دافغانستان اسلامي امارت ددې پېښې سره د نه ټراو ښکاره کولو؛دامریکا دالزام په اړه دامریکا نه ددلایلو غوښتلو او پرافغانستان دیرغل لپاره دراپیدا کړې پلمې ختمولو لپاره په مسلسل ډول امریکا ته دمذاکراتو دعوت ورکاوه خو په خپل زور او زرو مغرورې امریکا داسلامي امارت دې غوښتنې ته التفات هم نه کاوه او نه یې په مادي لحاظ کمزوري افغانان ددې وړ بلل چې دمذاکراتو په مېز ورسره کیني.

نو دډېرې خوښۍ او دالله تعالی دلوي شکر مقام دی چې داشغالګرو په مقابل کې دافغانانو دسپیڅلي جهاد په برکت امریکا او اتحادیانو یې شکست وخوړ او دغرور دنګ مناروڼه یې داسې ونړېدل چې اوس پخپله داسلامي امارت ته دمذاکراتو له لارې د ستونزې دحل کولو خواستونه کوي او په کمال عاجزۍ دوتلو لپاره پرامنه لار غواړي؛داسلامي امارت دروازه ټکوي او ۱۸ کاله وړاندې چې د ٦ دقیقو لپاره هم داسلامي امارت سره خبرو ته نه وه تیاره اوس یې ډېر دلوړې پایې هیئت پوره ٦ ورځې داسلامي امارت دنمایندګانو مخې ته کیني اوښه په غوریې خبرې اوري.

دنړۍ دمشهورو رادیوګانو له لارې داسلامي امارت قلندر امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله تعالی هغه خبره ټول عالم اورېدلې وه او تراوسه ددې رادیوګانو سره خوندي ده چې ویلې یې وو دامریکا ذلت او شکست یقیني دی،نن دوئ له موږ سره خبرو ته ندي تیار یو وخت به راشي چې دوئ به موږ سره خبرو ته سوال زارئ کوي،دایوه پیشنګویې ده خلک یې مني که نه وخت به راشي بیا به یې هرڅوک مني.

ددرویش امیرالمؤمنین رحمه الله تعالی دا پیشنګویې الله تعالی نن سل په سلو کې رښتیا کړه ؛ اوس امریکا داسلامي امارت په در کې ولاړه ده او په ډېرې عاجزۍ ورنه دمذاکراتو غوښتنه کوي؛امریکا چې کوم ځای او دکومو خلکو په منځګړیتوب کې مذاکرات

غوښتل اسلامي امارت هغه ځای اودخلکومنځګړیتوب دواړه رد کړل؛اسلامي امارت له خپل لورې دمذاکراتو لپاره ځای وټاکلو؛د کابل لاسپوڅې ادارې وجود او دبل چا منځګړیتوب یې رد کړچې امریکا په کمال عاجزۍ داشرطونه ومنل او دزلمي خلیلزاد په مشرۍ کې یې یو قوي ټیم په قطر کې د اسلامي امارت دمذاکراتو لپاره دټاکل شویو نمایندګانو مخې ته کیناست او بیا یې ښه په خشوع خضوع داسلامي امارت نه وغوښتل چې جنګ ودروئ او دوتلو لپاره موږ ته ۱۸ میاشتې وخت راکړئ،اسلامي امارت سمدستي دامریکا دایوه غوښتنه هم اصولي او معقوله نده ګڼلې او په ښه جرأت یې ورنه په لږ وخت کې دافغانستان نه وتل غوښتي دي او دایې ورته په ډاګه کړیده چې دبهرنو ځواکونو له وتلو وروسته موږ دخپلو ټولو ستونزو او مشکلاتو دحل کولو استعداد لرو او بل چاته دا اجازه نه ورکوو چې موږ ته دا وؤایې چې دا وکړئ او دا مه کوئ!.

دا هماغه ذلت او شکست دی چې امیرالمومنین یې وړاندوینه کړی وه او د افغانانو په مقدس جهاد کې دستروقربانیووپه برکت یې نن تحقق وموندلو او دا دذلت نه ډک داسې شکست دی چې دنورې نړۍ ترڅنګ یې هوښیار انصاف خوښونکي امریکایان هم مني؛ پرې اعتراف کوي؛ دافغانستان اوسني حالات د ویتنام دشکست حالاتو ته ورته بولي او اوسنئ شپې ورځې دویتنام نه دامریکایې عسکرو دوتلو نه دلږ وړاندې شپو ورځو په څېر بولي.

په افغانستان او پاکستان کې دامریکا دپخواني سفیر رایل کراکر په نیویارک ټایمز کې په یوې تازه خپرې شوې مقالې کې راغلي دي چې دطالبانو سره دامریکا مذاکرات موږ ته په ویتنام کې دامریکا دشکست نه وړاندې مذاکرات رایادوي؛ دښمن ته ورتلل او دمذاکراتو په مېز ورسره کیناستل له ځان سره زموږ حریف ته دا پېغام لري چې موږ یې په مقابل کې دوسلې ایښودلو پریکړه کړیده اوس یواځې ددې تفصیلات پاتې دی؛ماته داسې نه ښکاري چې څه بهتري به راشي ځکه چې زموږ سره په خپل مقابل دخبرې تسلیمولو لپاره څه ندي پاتې.

کراکر بیا په آخر کې امریکا اوسنی حالت په ویتنام کې دامریکا دشکست حالت سره ورته بللی دی.

کراکر رښتیا وایې چې دامریکا سره اوس هیڅ داسې کومه خبره نده پاتې چې منلو ته یې موږ ځان اړ او امریکا،یې دځان لپاره لاسته راوړنه وبلي نو ځکه یواځې همدا خبره کوي چې طالبان به موږ ته اطمینان راکوي چې دافغانستان خاوره به زموږ پرضد نه کارول کېږي.

امریکا چې هیڅ ترلاسه نکړل اوس ددې خبرو په تکرارولو هسې ځان ته د اوړو پوزه ایښودل غواړي؛په حقیقت کې دا دامریکا هیڅ لاسته راوړنه

نـده ځکـه چـې اسـلامي امـارت دامریکا په شمول په نړۍ کـې هیڅ یو هېواد،یودولت او یوملت ته نه پخوا خطر و،نه اوس خطـر دی او نه به هم په راتلونکي کـې دچالپاره خطر وي.

چاتـه خطرجوړېـدل نـه داسلامي امارت پالیسي ده او نه هم اوسنو حالاتو ته پـه پـام سره دا دخپل ولس او مسـلمان ملـت په خیر بولي.

په هېواد کـې دننـه اوبهـر نړۍ کې یو شـمېرشریراومغرض عنـاصرچې پـه سـیاسي ډګرکـې داســلامي امــارت دا ســتره کامیــابي نــه شي زغملــي پــه افغانـانو کـې دتشـویش راپیـدا کولـو هڅـې کـوي او وایـې چـې دامریکــا دوتلــو او دطالبــانو دراتللو سره به ګینې دمېرمنو یـا نورچا حقوق ترپښو لاندې شي.

دا ټولې نړۍ ته معلومه ده چـې دطالبـانو اسـلامي تحریـک پـرولس دظـالمو او وحشي ـ جـاه طلبـو دظلمونـو پـه مقابـل کـې رامنځته شویدي او پـدې لارکـې یې ستړې قربانۍ ورکـړي دي او دمظلومیـت دحالـت نـه دخپـل ولس دراویسـتلو لپـاره یـې اوس هم دامریکا او نورو اشغالګرو په مقابـل کـې خپلـې سـینې سـپر کړیـدي اوپـدې لار کـې ډېـرې ســترې قربــانۍ ورکــوي. نــو اسلامي امارت چې دخپـل ولـس دحقوقـو لپـاره دسرونـو قربـاني ورکوي پخپله به ولې دخپل ولس حقوق ترپښو لاندې کوي؟

زمونږ ولـس مسـلمان ولـس دی او دهماغې حقوقـو غوښـتنه کــوي کــوم چــې اســلام ورکړي؛داسلام دلارښوونو خلاف چې کومو خرافاتو ته دبشرحقوق ویل کېږي افغانان هیڅکلـه هـم هغه نه غواړي او نه یې خپل حق بولي؛ولس مطمـئن دی او پـدې پــوهېږي چــې دافغانســتان داســلامي امــارت ددوئ ټولــو شرعي حقوقو ادا کولـو تـه ژمـن دی نوځکه ددې مغرضو عناصرو تبلیغاتوته التفات نه کوي .

پـه داسـې حـال کـې چـې افغان ولس اوټول مسلمان ملـت دافغانــانو دې تــاریخي فتحــې اودامریکــا لــه ذلــت نــه ډک شکست تـه سـخت خوشـاله دي دکابــل اداري لاســپوڅي مشــر اشرف غنـي خپـل آقاټرمـپ تـه خطونه لېږي او په ډېرې عاجزۍ ورنه غواړي چې ټول فوځیان مـه اوباسـه لـږ خامخـا پرېـږده خـو ټرمـپ دخپـل غـلام خـبرې تـه ښـخي التفـات نـه کـوي اونـن دجنورۍ په وروستۍ نېټې یـې یو ځل بیاخپله ژمنه تـازه کـړه او ویــې ویــل چــې دطالبــانو سره دسولې موافقې تـه درسـېدو پـه صورت کې به په افغانستان کـې دېره ټول امریکایې فوځیان خپل هېواد وروغواړي .

دامریکا تـاریخ دادی چـې تـل یـې دخپلوغلامـانوسره جفـا کړیـده اوچــې تــرې یــې کــار اخستی بیا یې پـه خـالي میـدان پرېښـې دي؛ ډېـر ژربـه نـړۍ وګـوري چـې امریکایـان بـه لـه افغانســتان نــه روان وي اشرف غني اونور غلامان به ورته ډېـرې چغـې ووهـي چـې مـوږ موچاتـه پرېښودو؟ خوامریکایـان بـه یـې چغوته التفات نه کوي .

اشرف غني ولې د امریکا او طالبانو

له مذاکراتو وېره لري؟!

نسیم (شاهد)

له تېرو شپږو میاشتو راهیسې، له کله چې امریکا له طالبانو سره مخامخ خبرې پیل کړې، د افغانستان د ۱۷ کلنې جګړې د پای ته رسېدو هیلې راټوکېدلې دي. دا مذاکرات د تېر ۲۰۱۸ز کال په جولای میاشت کې، د افغانستان په ګډون په نورو هېوادونو کې د امریکا له روانو جګړو د بېزارې ولسمشر، ډونلډ ټرمپ، په امر پیل شوې او تر دې دمه، د دواړو لورو په خبره، "ښې" روانې دي.

د دې مذاکراتي پروسې د پرمخ بېولو لپاره د تېر ۲۰۱۸ز کال په سپټمبر میاشت کې په کابل، عراق او ملګرو ملتونو کې د امریکا پخوانی افغاني الاصله سفیر، زلمی خلیلزاد، د امریکا د ځانګړې استازي په توګه وټاکل شو.

طالبانو د خپل نظام له راپرځېدو راهیسې د جګړې له اصلي لوري امریکا سره پر مخامخ خبرو ټینګار کړی، او د دوی د واکمنې تر سقوط وروسته د نړیوالې ټولنې په مرسته له جوړ شوي کابل حکومت سره یې خبرې رد کړې دي. بل خوا، امریکا ځان د روانې جګړې اصلي لوری نه بولي او له هر ډول فشاره په ګټه اخیستنې یې هڅه کړې چې د منځګړي په رول لوبولو طالبان له کابل حکومت سره خبرو ته کښېنوي.

خو امریکا شپږ میاشتې مخکې، له یو کال زورازمایي وروسته، له طالبانو سره په مخامخ مذاکراتو پیلولو خپله ستراتیژي بدله کړه - هغه څه چې د طالبانو غوښتنه وه او کابل حکومت یې له وارخطایي سره مخ کړ.

د افغانستان د"ملي وحدت حکومت" مشر، اشرف غني، د دې خبرو د پیلېدو راهیسې وارخطا شوی - په دې وروستیو کې له هېواده د بهرنیو ځواکونو د وتلو پر سر د طالبانو او امریکا احتمالي موافقې له داخلي اختلافاتو سره د مخ حکومت وارخطایي نوره هم زیاته کړې ده.

په ابوظبي او قطر کې تر غونډو وروسته، طالبانو د تیرې جنوري میاشتې په وروستیو کې له اته کسیز امریکایي مذاکراتي ټیم سره شپږ ورځې

مـذاکرات وکـړل. د دې غونـډې ایجنـډا دوې مهمـې خبرې وې: له افغانستانه د بهرنیو ځواکونـو وتـل او د بهرنیو ځواکونو تر وتلـو وروسـته لـه افغانسـتانه نـورو هېوادونو ته د خطر نه متوجه کېدل.

د غونډې په اخیر کې د یـوې ګـډې اعلامیـې د خپرېدو تمه وه، خو له اوربند او له کابل حکومت سره د طالبانو د مخالفت له امله دا اعلامیه خپره نه شوه.

په دې غونډه کې محوري ټکی په هېـواد کـې د بهرنیو پوځونو شـتون و - د بهرنیـو پوځونـو شـتون د کابـل حکومـت تـه د آکسـیجن حیثیـت لـري. د ملـي وحـدت حکومـت مشـر، اشرف غنـي، د تېـر کـال پـه جنـوري میاشـت کـې د امریکـا د CBS ټلـوېزون لـه 60 Minutes پروګـرام سره پـه خـبرو کـې ویـلي و چـې د هېواد اردو "د امریکا لـه مرسـتې پرتـه شـپږ میاشـتې هم مقاومت نه شي کولای. "

د دوحې پـه شـپږ ورځنـی غونـډه کـې امریکـایي لوري طالبانو ته ډاډ ورکړی چـې دوی لـه افغانسـتانه د وتلو په اړه جدي دي. د طالبانو د مذاکراتي ټـیم مشـر، شېر محمد عبـاس سـتانکزي، تـر غونـډې څـو ورځـې وروسته له نن.اسیا وېبپـاڼې سره پـه مرکـه کـې وویـل چې د بهرنیو ځواکونو د وتلـو پـر میکـانیزم د کـار کولـو لپاره دواړو لورو کاري ټیمونه جوړ کړي، چې د فـبروري په ۲۵مه په راروانه ترسره کېدونکې غونډه کې به خپـل پلان وړاندې کړي او بحث به پرې وشي. د فـبروري د ۲۵مې غونډې ته زیاتې هیلې شته.

د غونډې تر پای تـه رسـېدو وروسـته د امریکـا ځانګړی استازی، زلمی خلیلزاد، له اشرف غنـي سره د مشورې لپاره کابل ته ولاړ. د نیویارک ټایمز ورځپـاڼې په خبره، د غني او خلیلزاد دا دریم ساعته لیدنه سـړه وه او د خلیلزاد ځوابونو اشرف غني قانع نه کړ.

له خلیلزاد سره تر خبرو څـو ورځـې وروسـته، د نیویـارک ټـایمز د راپـور لـه مخـې، اشرف غنـي ډونلـډ ټرمپ تـه یـو لیـک ولیکـه، چـې پـه هغـه کـې یـې لـه افغانستانه د ټولو امریکایي ځواکونو پر نه وتلو ټینګار او پر ځای یې د لګښتونو د کمولو وړاندیز کړی و.

که څه هم دې لیک ته د ټرمپ د ځـواب پـه اړه معلومات نشته، خو رسنیو ته د دې خبر تر راوتلو څـو ساعته وروسته ډونلډ ټرمپ پر خپل ټویټر ولیکل چې له افغانستان او سوریې د امریکایي ځواکونو د راوتلـو او پـه عاقلانـه ډول د خپلـو پیسـو د کـارولو وخـت رارسېدلی دی.

د اشرف غنـي سـیاسي مخـالفین نومـوړی د امریکا- طالبانو د مذاکراتو پر سـبوتاژ کولـو تورنـوي - چې حقیقت دی او وایي د مذاکراتو د بریا پـه صـورت کې د نوموړي دویم ځل واکمن کېدل احتمال نه لري.

که څه هم د امریکا دفاع وزارت او سنا مجلس له افغانستانه د امریکایي ځواکونـو د وتلـو خـلاف ده، خو پخپله ولسمشر- ډونلډ ټرمپ د دې جګړې سـتر مخالف دی او ژر تر ژره یې ختمېدل غواړي.

د بهرنیو ځواکونـو د وتلـو د ویـرې تـر څنګ، د طالبـانو د سـیاسي مشـروعیت زیاتېـدلو او د کابـل حکومـت د مشـروعیت، واک او ځـواک ورځ پـه ورځ کمېدلو هم د اشرف غني وارخطایي زیاته کړې ده.

حسن زوی

کلیساوې پلورل کېږي

په تېرو ورځو کې په غربي رسنیو کې دنړۍ د بېلابېلو هېوادونو د کلیساګانو دخرڅلاو ګڼ اعلانات خپاره شول چې ورسره یو ځل بیا دا بحثونه تاوده شویدي چې آیا دنړۍ دترټولو ستر مذهب دعوه لرونکی مسیحیت خپل وجود په تېزۍ سره له لاسه ورکوي؟ که ددې مذهب سره دخپلو پیروانو تړاو تش په نامه دی ؟

دعربي نړۍ دمشهور تلویزون الجزیره له لورې په خپور شوي یو راپور کې راغلي دي چې په ټولې اروپا کې د راجستر شوو کلیساو شمېر کابو ٦٠ زرو ته رسېږي چې یواځې ۴ زره یې خلاصې دي او دعبادت لپاره یوه او بله یکشنبه خلک ورځې باقي پاتې ٥٦ زره یې بندې دي په ټول کال کې یې یوځل هم دروازې نه خلاصېږي ځکه چې داسې یو فرد هم نه وي چې په ټول کال کې یوځل دې کلیساګانو کې یوې ته ورشي.

نو ځکه اوس دا کلیساوې یو په بل پسې دخرڅلاو لپاره بازار ته وړاندې کېږي چې دخرڅلاو نه پس په هوټلونو پلورنځو حتی ځنې یې دخوګانو په فارمونو او داسونو په اصطبلونو هم بدلې شویدي.

په ټولې اروپا کې هالینډ پدې هکله ترټولو وړاندې دی؛دلته دکلیساګانو شمېر ١٦ زرو ته رسېږي ددې هېواد مذهبي مشران وایې چې عبادت ته دخلکو دنه راتللو له املې یواځې په تېرو ۴ کلونو کې ۴ سوه کلیساوې تړل شویدي.

په امریکا کې په متوسط ډول هرکال ٢٠ کلیساوې تړل کېږي .

په برتانیه کې د کرسچن ریسرچ انسټیټیوټ نومې اداره له لورې خپور شوي راپور کې راغلي دي چې د ۱۹۶۰ م کال راهیسې په برتانې کې ۱۰ زره کلیساوې بندې شویدي او تر ۲۰۲۰ م کال پورې به ۴ زره نورې هم وتړل شي.

ډنمارک دولت هم ویلې دي چې د ۲۰۱۵م کال نه پس پدې هېواد کې ۲ سوه کلیساوې تړل شویدي.

جرمني هم منلې ده چې په تېرو څو کلونو کې پدې هېواد کې هغه ۵۱۵ کلیساوې بندې شویدي چې کومو ته خلک د عبادت لپاره نه راتلل.

څوورځې د مخه دفرانسې St Jules Catholic نومې تاریخي کلیسا هم خرڅلاو ته وړاندې کړای شوه، په رانس نومې ښار کې دا کلیسا به دروانې جنورۍ میاشت په ۲۲ مې نېټې لیلام ته وړاندې کړای شي؛ددې کلیسا پېرونکی به مکلف وي چې په کوم داسې ځای کې په همدې نوم بله کلیسا جوړه کړي چې پکې خلک معبد ته اړتیا لري.

دکلیسا دخرڅلاو دعمل لپاره ټاکل شوی فلپ رویاک وایې چې ددې کلیسا ټول قیمت ۵ زره یورو ټاکل شویدی؛دا کلیسا د ۱۸۹۰ م نه تر ۱۸۹۲ م پورې په دوه کلونو کې جوړه شوې وه چې دعبادت کونکو دنه شتون له املې یې دځه مودې راهیسې دروازې تړل شوې وې چې پدې مودې کې یې هیڅ ترمیم او تزیین ندی شوی او په دې هېواد کې همدا ړومبۍ کلیسا ده چې خرڅلاو ته وړاندې کېږي.

ډنمارک دمسیحیانو هېواد دی؛پکې دنورو مذهبونو پیروان کم دي دنفوسو ۸۲ سلنه یې مسیحیان تشکیلوي چې پکې یواځې ۸ سلنه خلک کلیسا ته دعبادت لپاره ورځي چې له همدې املې دګنې کلیساګانو دروازې تړل شویدي.

پدې هېواد کې دکلیساو دنظم او ساتنې اداري مشرکالی بولمان ویلي دي چې کله کلیسا ته خلک دعبادت کولو لپاره نه راځي نو ښه داده چې کلیساوې دخوګانو په فارمونو او دآسونو په اصطبلونو بدلې شي .

دکلیساوو د نظم او ساتنې اداري د ۱۰ نورو کلیساوو دپلورلو اعلان هم کړیدی خو په اعلان کې یې د (نان فار مسلمز) ټکې ورزیات کړیدي یانې مسلمانان دا کلیساوې نه شي اخستلی.

ډنمارک مذهبي مشرانو ویلې دي چې پرمسلمانانو دپلورلو ممانعت له دې املې دی چې مسلمانان یې داخستلو نه پس په جوماتونو بدلوي.

الجزيره تلويزون دالمان يوتلويزون ته په استناد ويلي دي چې ددې هرڅه اصل لامل په مسيحيت کې دخپلو پيروانو لپاره دروحاني تسکين نشتوالی دی؛مسيحيان دروحاني سکون او اطمينان لپاره کليساو ته راځي خو په کليساو کې دا جوهر عنقا دی.

په راپور کې راغلي دي چې ترټولو زيات مذهبيتوب په آيرش مسيحيانو کې دی چې ۴۹ سلنه يې په اوونۍ يو ځل کليسا ته ځي،دايټاليا ۳۹ سلنه دهسپانې ۲۵ سلنه دبرتانې ۲۱ سلنه؛ دجرمني ۱۱سلنه او دډنمارک يواځې ۸ سلنه مسيحيان په اوونۍ کې يو ځل کليساګانو ته دعبادت لپاره ځي.

په راپور کې راغلي دي چې د اروپا په څېر داسترالیا مسيحيان هم دخپل مذهب نه ډېر لرې دي؛دلته هم کليساګانو ته دتلونکو وګړو په شمېر کې دېر کموالی راغلی دی چې له املـه يې دګڼ شمېر کليساګانو دروازې ټرل شويدي او په ټرل شويو همدې کليساګانو کې د ۵۵ ديلورلو پرېکړه هم شويده؛په آسترالیا کې دکليساګانو دمراقبت اداره وايي چې ددې ۵۵ کليساګانو ديلورلو له لارې به ۲۰ مليونه ډالر ترلاسه شي چې به پرهغو کوچنيانو مصرف شي او ورته به معاوضه ورکړل شي کوم چې په کليساګانو کې د پادريانو له لورې دجنسي تېريو ښکار شويدي.

دیادولو وړ ده چې په استرالیا کې دپلورلو لپاره په وړاندې کړای شويو کليساوو کې saint Martinez نومې مشهوره کليساهم شامله ده.

په آسترالیا کې دکليساوو شمېر ۳ زرو ته رسېږي چې ددې هېواد يواځې ۲۰ سلنه مسيحيان دې کليساګانو ته کله کله دعبادت لپاره ورځي نو ځکه پکې ګڼې اوس ټرل شويدي.

په منځني ختيځ کې عراق دتهذيبونو مرکز بلل کېږي چې پکې ګڼ شمېر مسيحيان مېشت دي او دلته ګڼې ډېرې قديمې تاريخي کليساګانې شتون لري چې اوس يې زياترو دکليسا په حيث خپل وجود له لاسه ورکړی او کمې کليساګانې داسې دي چې مسيحيان ورته ديکشنبې په ورځ عبادت لپاره ورځي نو ځکه د عراق ګڼې کليساوې په دکانونو او تجارتي مرکزونو بدلې شويدي او ډېرې بندې کليساوې اوس د پلورلو لپاره وړاندې کېږي.

دعراق دپارلمان پخواني مسيحي غړي جوزف صليوا وايي چې دعراق دمسيحي اوقافو اداره او مسيحي مذهبي مشران دواړه دکليساو په ناقانونه ډول پلورلو کې ککړ دي.

یو مطبوعاتي کانفرانس ته دوینا پرمهال صلیوا وویل چې دبغداد په شورجه سیمې کې سریانه کاتولیک نومې کلیسا دخرڅلاو لپاره وړاندې کړای شویده چې دا دقانون او د کلیساګانو لپاره دجوړې شوې اداري داصولو مخالفت دی.

داصولو له مخې دا کلیساوې دکوم بل پاک هدف لپاره کارول کېدای شي خو پلورل یې داصولو نه په تمامه معنی مخالفت دی.

صلیوا وویل چې د مسیحي اوقافو اداري له لورې دکلیساوو په ګډون ډېر دمسیحیانو وقف املاک پلورل شویدي خو پدې هیڅوک نه پوهېږي چې دپلورل شویو وقف املاکو نه ترلاسه شوې پیسې څه شوې؟

ددې پیسو ورکېدل ددې خبرې دلیل دی چې داوقافو اداره او مذهبي مشران دواړه په مالي فساد کې سره شریک دي ؛ ددوئ پدې ناوړه کار د ددولت چوپتیا ډېره دافسوس وړ ده.

دبغداد او نورو ښارونو دکلیساګانو په پلورلو کې د نامتوکاتولیک مشر لوس ساکو په شمول ټول سرکرده پادریان ککړ دي.

دالشورجه کلیسا چې په ۱۸۳۴ م کال کې جوړه شوې وه زمور مذهبي مشرانو وپلورله؛ اوس هغه په یو سوداګریز مرکز بدل شویدی اوس څوک دلته دعبادت لپاره نه بلکې د اخستلو خرڅولو لپاره راځي.

دالجزیره له لورې په نشر شوي راپور کې راغلي دي چې په لویدیځ کې کومې کلیساوې پلورل شوي یا پلورل کېږي ډېرې پکې مسلمانان اخلي او په جوماتونو یې بدلوي ؛ دایټالیا وینس ښار داروپا له هغو ښارونو څخه دی چې پکې دمسلمانانو لپاره دمونځ مناسب ځای نه و ؛ اوس پکې مسلمانانو یوه تاریخي کلیسا اخستې او په جومات یې بدله کړیده،سانتاماریا ډیل ابازیا ډیلامیسریکور ډیا،نومې کلیسا په ۱۰ مې میلادي پیړۍ کې جوړه شوې وه چې دتېرو ۴۰ کلونو راهیسې بنده وه او څوک ورته دعبادت لپاره نه ورتلل.

په المان کې ډورتمونډپو هانس نومې تاریخي کلیسا هم مسلمانانو اخستې او په جامع مسجد ډورتمونډ یې تبدیل کړیده، ۷ سوه متره مربع دا فراخه مسجد کې په یو وخت کې ۱۵ سوه تنان لمونځ ادا کولی شي.

دادهغه مذهب حال دی چې پیروان یې ځانونه په نړۍ کې له مسلمانانوزیات ګڼي او په همدې اساس خپل مذهب دنړۍ تر ټولو ستر مذهب بولي خو حال یې دا دی چې عبادتخانې یې دخلکو دنه

ورتلوله امله ترلسګونوکلونو تړل کېږي اوبيا پلور ته وړاندې کېږي !؟

هو! کوم دين چې منسوخ وي اوله منسوخ کېدو وړاندې پکې نبه ډېر تحريفات هم شوي وي اوځان مذهبي مشران ګټونکي يې دجنسي تجاوزونو ترځنګ لسګونوفسادونوکې ککړ وي نو هغه مذهب تش په نوم مذهب پاتې وي ؛ هيڅ روحاني سکون او اطمينان پکې نه وي او نه هم کومه معنوي ارتقاء ؛نوکه يوځومذهبي متعصبين ورته تبليغات کوي اوله دولتونو له لورې ورته ډېر ستر مصارف هم کېږي له ځني بې علمه خلکو له ګمراه کولو پرته هيڅ کومه ځانګړې پايله نه لري اوحال يې دا وي چې بيا يې عبادتخانې پلورل کېږي .

ډېر دشکرمقام دی چې زمونږ عالمانو دخپل دين دساتنې او اشاعت لپاره بې حده زيات کوښښونه اوقربانئ ورکړيدي نودمسلمانانو تراو دخپل دين سره نبه قوي دي ؛ ځومره يې چې پر ضد په نړۍ کې کړنې زياتېږي او دبدنامولو هڅې يې ډېرېږي هغومره دوئ خپل دين ته رانېږدې کېږي او دخپل دين لپاره دقربانۍ احساس يې قوي کېږي .

په مسلمانانو کې چې خپلو جوماتونوته کوم احترام دی اوله ځانګړو سيمو اوخلکوپرته چې دنړۍ مسلمانانو خپل جوماتونه په عباداتو ځومره آباد ساتلي دي ډېر دستايلو وړ دي او بې له شکه چې ځوک يې مثال نه شي وړاندې کولای .

دمسلمان دجومات پلورل کېدلوتصور هم نه شي کېدای ؛ بلکې دشکر اوخوښۍ مقام دادی چې مسلمانان دمسيحيانو په هېوادونوکې دهغوئ کليساوې په پيسو اخلي اوپه جوماتونو يې بدلوي ؛ داسلام همدا حقانيت اوس ډېر غربيان وينې او حتی هغه تنان هم په اسلام کې په ډېر کثرت اوتېزۍ سره را د اخلېږي چې دعمر ډېره برخه يې په اسلام دښمنۍ کې تېره شوی وي نوځکه خوغربي هېوادونه دسختې وېرې نبکار دي ؛ په کومو کې چې خلک زيات مسلمانېږي نور يې په اړه دا وېرې نبکاره کوي چې يو وخت به دا هېوادونه دمسلمانانو په هېوادونوبدل شي ؛ ددې تر ځنګ اوس دوئ غرب ته دمسلمانانو دورتګ لارې هم په ډېرې تېزۍ بندوي او دولتونه په لويديځ کې دمېشتومسلمانانو لپاره مشکلات هم راپيداکوي ؛ خودوئ بايد پدې پوه شي چې پدې اقداماتو دوئ دحق او صداقت مخه نه شي نيولی او ډېر ژر به هغه وخت راشي چې په زياتره اروپايې هېوادونوکې به دنفوسو اکثريت مسلمان تشکيلوي . ان شاءالله تعالى

غني رښتيا

د نجيب غوندې آزار لري...؟!

موسی فرهاد

د فيسبوک په نړۍ کې د ارګ پلوه قلمکارانو لپاره ځانګړې ټرمينالوژي موجوده ده چې له مخې يې دا خلک د ارګ خياطان، ګډلبازان، قلمي چاپړوسان، درې سوه ډالري پروژيان او داسي نور... ډېر ښايسته نومونه لري چې دلته د ټولو ذکر کول يې زما د ناتوانه قلم د وس خبره نه ده.

په هرحال، د ارګ خياطانو دا مهال يو بل کار ته لاس اچولی ترڅو طالبان له بلې زاويې تر فشار لاندې ونيسي- او دې ته يې اړ باسي ترڅو د غني سرکار هغه ناکجاتي او ناکردې وربانديو ومني چې د دوی بين المللي آقايانو په دا ۱۸ کاله مسلسل بمبار سره هم وربانديو ونشو منلای.

د پروژه يې خياطانو په مفرداتو کې راغلي چې ګورئ طالبانو! غني ډېره لويه د آزار کوټه ده، که چيرې يې همداسي پرلپسې- له مذاکراتي وړانديزه انکار کوئ، نو داسي به مو آزار ووهي، لکه څنګه چې د نجيب له سوله ايز وړانديزه ډېری خلک آزار وټکول او کابل يې لوټي لوټي کړ.

خياطانو د طالب د ويرولو لپاره دا ابتکار وروسته ترهغه په کار واچاوه، چې لومړی خو ټرمپ پرخپل سر له طالب سره مخامخ د جوړجاړي خبرو ته پلتې- ووهلي او غني سرکار يې داسي ونه باله، لکه د خيرک ادې.

دويم دا چې د غني د ښې او چپ اړخ ټولو انډيوالانو مخ ترې واړاوه او په يوه اتفاق طالبانو ته ورجرګه شول، د مسکو په ناسته کې يې د طالب دا شعار ورسره بدرګه کړ چې بهرنی اشغالګر به هرو مرو زمونږ له پاکي خاورې وزي، د خپلواکۍ امامت به د طالب وي، حکم به د الله وي، د امريکايي اشغال را وارد شوي پروژې به له سره ريويو کيږي، ښه به يې پاتې، ناسمي به يې خاکدان ته کيږي.

دلته هم د غني سرکار داسي وګڼل شو، لکه لا شی، (هيڅ نه) له همدې ځايه وه چې د غبرګ سري حکومت دواړه شريکان پخپلو کې هم له يو بل سره په يوه خوله پاتې نشول، عبدالله له دې املې د مسکو ناسته تائيد کړه چې ځان يې په حتمي خطر کې

محسوس کړ او غني يې بيا له دې امله مخالفت وکړ چې د سياسي تنهايي له امله يې د ښه او بد، ګټې او تاوان، ترمنځ د تميز کولو شعور بيخي له لاسه ورکړی دی. حنيف اتمر چې د غني تر نظارت لاندي يې امنيتي سند لاسليک کړی، په مسکو کې په وازه خوله برائت تري اعلان کړ، او د اشغالګرو د وتلو غوښتنه يې وکړه، خو غني سرکار يې لا بيا هم د ځان افتخاري کارنامه بولي، چې دا نو د بې حسۍ وروستۍ حد بلل کيدای شي.

له همدې پورتنۍ سناريو وروسته د ارګغني خياطانو پرخپلو پانو په ليکل شويو خبرو کې پرطالبانو بړغ وکړ چې د غني آزار به مو ووهي، که مو هغه ته زيان ورساوه، د هغه د سولې وړاندیز مو رد کړ؛ هرو مرو به آزاريان شئ، دوی وايی چا چې د نجيب دغسي زاری ونه منلي بالاخره آزار ووهل، د ګلبدين حکمتيار او مسعود پنجشيري په څير د کابل د تباهي عاملان شول.

د ارګ د خياطانو له نظره د کابل ورانيدل د نجيب آزار و، خو د نجيب راځورځندول يې بيا نه دي ويلي چې هغه د چا آزار د اريانا څلور لاري ته پورته کړ،؟

د خياطانو له دې تشبيه نه له ورايه څرګندیږي چې که چيري طالبان بيا هم غني ته د هيڅ په نظر ګوري؛ نو له امله به يې طالبان آزاريان شي او د آزار په نتيجه کې به يو خو غني هم د نجيب په څير د آريانا ترچوکه رسول کيږي، او بل دا چې کابل به د بل ځل لپاره ورانيږي.

خو څيړونکي بيا د خياطانو دا خبره تر يوه څه حده مني مګر د خبري وروستی جز له څو وجو نه تأييدوي، دا چې خياطان خپله غني له نجيب سره تشبيه کړی، نو د راځورځوندولو خبره يې کيدای شي ورسره ومنله شي، خو د کابل د ورانيدلو آزار يې ځکه د منلو نه دی چې دا ځل د پخوا په څير د قدرت وړي، ډلي ډلي ټوپکوال کابل ته نه دي روان، بلکي د ډېر لوړ هدف بانظمه اسلامي قافله، تر يوه بيرغ او يوې قومندې لاندي ور روانه ده چې هيڅکله يې د تخريب او ورانۍ هوډ نشته، دويم دا چې فاتح طالب وار له مخه لا له افغانانو سره د جوړ جاړي په پار په هلو ځلو بوخت، هم يې بهرنيان دې ته نژدې کړي چې کډې بار کړي، او هم يې د هغوی کورنې حمايتيان پرځان د راټولولو پراو ته نژدې کړي. يوازي ارګغنيان او د هغه خياطان دي چې له کښتۍ بهر پاتې ښکار.

له همدې امله خياطانو ته پکار ده چې د غني آزار دومره قوي تلقي نکړي، چې د ده له سرخوړلو پرته نور تاوانونه هم رسولای شي.

پای ... !!

دا اسلام غزوات او سرلیک

دمکې عظیم الشانه سوبه...

دابوسفیان روانیدل:

□ وروستی برخه

□ ابوظهیر

ابوظهیر

دقریشومشران پخپل ځواب پښیمان ول ،نوژر یې ابو سفیان د صلحې مودې غځولواو تجدیدولوپه غرض مدینې ته واستاوه او هلته په مدینه کې رسول الله ﷺ صحابه وو ته دابوسفیان د روانګی خبر ورکړ چې هغه دصلحې مودې غځولو او عهدنامې نوې کولو په موخه رادرومي

ابوسفیان دمکې نه عسفان نوم سیمې ته ورسید،هلته د بدیل بنورقاء خزاعي په نوم د یوتن سره مخ شو، ابوسفیان تري وپوښتل: له کومه ځایه راغلي؟ بدیل ویل: له دې نیږدې وادې راغلم

هغه (بدیل) ډیر تم نشو او دمکې په خوا ژر روان شو، لیکن دهغه په خبره دابوسفیان باور رانغی اوپه دې خیال چې هغه دمدینې څخه راغی! پورته شو هغه ځای ته ورغی چیرته چې بدیل اوښه چُو کړې وه اوهلته دپرتو پچونو نه یې یوه را پورته او ماته یې کړه ،له منځ یې دخرما زړ ی ووت ابوسفیان ویل:

په خدای سوګند بدیل ضرور مدینې ته تللی و او دازړي دمدینې دخرماوو دي

ابوسفیان مدینې ته روان شو، په مدینه کې ترنورو لومړی دخپلې لور (اُمِ المُؤمنین اُمِ حبیبه رضی الله تعالی عنها) کورته لاړ، چې په لیدو یې هغې ژر کوټه کې خوره بستره غونډه کړه؛ ابوسفیان ویل: لوریې! تاخوره بستره ولې دومره ژر غونډه کړه ایاازما دناستې وړ نه وه او که زه وربانديې دکیناستو وړ نه یم!

اُمِ حبیبه رضی الله تعالی عنها وویل: دا درسول الله ﷺ بستره ده ،یومشرک چې دشرک په نجاست پلیت دی هغه پرې نشي کینستلی.

ابوسفيان ويل: لوړې! په خداى سوګند ته زما نه دتلو وروسته په شرکې مبتلى شوې يې!

اُمِ حبيبه رض ويل: زه په شر نه يم مبتلى،بلکې دکفر دتيارو نه داسلام دهدايت رڼاته راغلې يم او په تعجب په تادى چې دقريشو سردارې اود هغوکانو عبادت کوي کوم چې نه څه اوري او نه څه ګوري

ابو سفيان له هغه ځاى پورته شو اومسجد ته لاړ درسول الله ﷺ په خدمت کې يې عرض وکړ:

زه دقريشو له لوري دصلحې دتجديد او د عهدمودې غځولو لپاره راغلى يم ، رسول الله ﷺ ور ته هيڅ ځواب ورنکړ اوترپايه خاموش پاته شو، ابوسفيان مايوس پورته شو ابوبکر صديق رضي الله عنه ته ورغى او هغه نه يې مرسته وغوښته چې رسول الله ﷺ ته دده سفارش وکړي، ابوبکر صديق رضي الله عنه ورته وويل: په دې زه هيڅ مرسته نشم کولى

بيا عمربن الخطاب ته لاړ او هغه ته يې دسفارش خواست وکړ،عمربن الخطاب وفرمايل:الله اکبر!زه ستا دسفارش لپاره درسول الله ﷺ حضورته ورشم! که په دنيا کې ماسره يو ملګرى هم پاته نشي تنها زه تاسو سره جهاد ته تياريم.

دهغه دځواب په اوريدو حضرت على رضي الله عنه ته لاړ ، هغه سره دغه مهال خپله ميرمن حضرت فاطمه رضى الله تعالى عنها او ځوى يې حسن رضي الله عنه هم ناست وو ، ابوسفيان حضرت علي رضي الله عنه ته وويل:

اي ابوالحسن! ازه او ته په قرابت کې ترټولو قريب يو،زه تاته ديو سخت ضرورت لپاره راغلى يم اوغواړم چې ته مې بيرته ناکام ونه ليږي، ته رسول الله ﷺ ته زما سفارش وکړه

حضرت علي وفرمايل:

په خداى سوګند چې رسول ﷺ کومه اراده کړې ، بيا په هيچا کې ددې مجال نشته چې په اړه يې رسول لله ﷺ ته څه وويلاى شي.

ابوسفيان دهغه ځواب په اوريدو حضرت فاطمه رضى الله تعالى عنهاته متوجه شو او هغې ته يې وويل:

اې بنت محمد(ﷺ)که ته دي خپل ځوى يعنې حسن ته حکم وکړي چې ووايي: ما قريشو ته پناه ورکړې نو دى به د تل لپاره دعربو دسردار په توګه اومنل شي

حضرت فاطمه وفرمايل:

اول خو دا کوچنى دى (يعنې پناه ورکول دلويانو کار دى)دوهم داچې درسول الله ﷺ درضا خلاف څوک پناه ورکولى شي؟ ابوسفيان علي رضي الله عنه ته مخاطِب شو: معامله سخته ده ، ته راته يو تدبير وښيه!

حضرت علي وويل:

زما په ذهن کې نورځه نه راځي اوکه ته دځان لپاره مناسب بولي مسجد ته لاړشه او هلته چیغه وکړه چې زه(ابوسفیان) دحدیبې صلحې او معاهدې دتجدید لپاره راغلی یم ! او بیا خپل ښار ته ستون شه

ابوسفیان هم داسې وکړل هغه ځای نه مسجد ته لاړ او په لوړ ستوني ناره کړه :

زه صلحه او دعهد موده نوره غځول غواړم! او بیا مکې ته روان شو

ک ابوسفیان چې مکې ته ورسید قریشو ته یې واقعه بیانکړه، قریشو ویل:

ایا محمد(صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ)هم ستا دا اعلان جائز وګرځاوه

ابوسفیان ویل: نه! قریشو ویل:

دمحمد درضا او اجازت پرته، ته په څه ډاډه او راضي شوي ؟تا محض یولغوه اوبیکاره څېز راوړی چې دهغه ماتول هغه ته دشوار ندي او په خدای سوګند چې تاسره یې مسخره کړې او تا نه دصلحې خبر راوړی او نه دجنګ ، چې موږ ځانونه او سباب تیار کړو

دابوسفیان دبیرته تلو وروسته رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحابه ووته په پټه دځان تیارولو، دسفرسامان او دوسلو جوړولو او ترمیم حکم وکړ او تاکید یې وکړ چې داخبره پټه وسا تئ او بیرون ته یې اظهار او اعلان مه کوئ او هم یې شاوخوا قبایلو ته پیغام ولیږه چې ځانونه تیار کړي(زرقاني ۲ټوک ۲۹۳مخ)

دحاطب بن بلتعه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قصه:

په صحیح بخاري کې شته دغه مهال حاطب بن بلتعه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دمکي دخلکو په نوم یو خط ولیکه چې:

خبرشئ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مکه باندې دبرید لپاره ځان تیاروي.

او په پټه یې یوې میرمنې ته دوړلو لپاره ورکړ ،الله تعالی دوحې په زریعه اطلاع ورکړه ،رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت علی، حضرت زبیر او حضرت مقداد ورپسې واستول چې :

تاسو پرلپسې درومئ تردې پورې چې په (روضه خاخ) کې به په اوښ باندې یوه سپره میرمن وومئ ،هغې سره دمشرکینو په نوم دحاطب بن بلتعه یو لیک دی او هغه راوړئ

هغوی وایي کله چې مورِ (روضه خاخ) ته ورسیدو دیوې میرمنې سره مخ شوو، مورِدهغې اوښه چُو کړه او دمیرمنې تلاشې مو واخیسته خو لیک تري په لاس رانغی مورِ ویل: په خدای سوګنددالله رسول هیڅکله هم نه خطاء کېږي

مورِ هغې میرمنې ته وویل: ښه داده چې ته هغه لیک مورِ ته را وسپاري، کنه مورِ به دي په لوڅه تلاشي واخلو، دې سره هغې دخپل سر وښتانو په کوڅیو کې یو پټ کړی لیک راویست او هغه یې مورِ ته راکړ، مورِ لیک واخیست اودرسول الله په

خـدمت کـې پـيش کړ،رسـول الـله ﷺ حاطب بن بلتعه طلب کړ اولـه هغـه يـې و پوښـتل : څه معامله ده؟حاطب عرض وکړ:

يارسـول الـله ! زمـا پـه مواخـذه کـې بيـړه مکوه،دالـله رسـوله دقريشـو سره زمـا هـيڅ قرابـت نشـته يـواځي ورسره حليفانـه اړيکـه لـرم، زمـا اهـل وعيال هلته په مکه کې دي اوهلته هيڅوک ملاتړی او مرسـته کـونکی نلـري، پـه خـلاف دنـورو مهاجرينوڅخه چې په هغوی کې هريو په مکـه کـې خپلو لې لري او پـه دې وجـه دهغـوی اهـل وعيـال محفوظ دي، ماغوښتل زه دقريشو سره هـيڅ قربـت نلرم او ور سره به دايو احسان وکړم څو په بدل کـې يـې هغـوی زمـا د اولاد او کـورنۍ سـاتنه وکـړي، پـه خدای سوګند چې ما داکار ددې لپاره نـدی کـړی چې زه داسلام څخه مرتد شوی يم اويـا داسـلام پـه ځای پر کفر راضي شوی يم، زما غرض فقط هم هغه دی کوم چې ما عرض کړ، دادصحيح بخاري روايت دی دابـن مردويـه پـه روايـت کـې دابـن عبـاس او حضرت عمر روايت دی چې:

فَكَتبتُ كِتَاباً لَايَضُرُ الله ورسوله

ژ: پس ما يو خط وليکه (په کوم کـې چـې زمـا ګټه ده)او دالـله او دهغـه درسـول پکـې هـيڅ تـاوان نشته

دبخاري پـه روايـت رسـول الـله ﷺ ددې په اوريدو وفرمايل:

اَمَاانِّه قَد صَدَقَكُم

ژ: خبرشئ يقيناً تاسوته يې رښتيا وويلي

حضرت عمر رضی الله عنه عرض وکړ:يار سـول الـله ﷺ ماته اجازه راکړه چې ددې منـافق سر دتـن څخـه قلـم کـړم! رسـول الـله ﷺ وفرمايل: «قد شهد بدرا وما يدريك لعـل الله اطلـع على أهل بـدر فقـال: اعملـوا مـا شـئتم فقـد غفـرت لكم.«

ژ: په تحقيق سره حاطـب بدرتـه حـاضر شـوی دی او عمره تاته څـه معلومـه ده شـايد الله تعـالی دخپل نظر په رحمت سره بدريانوته دافرمـايلي چـې هرڅه غواړئ وي کړئ بيشکه ستاسو مغفرت شـوی دی

ددې پـه اوريـدو حضرـت عمـر رضی الله عنه پـه سترګو کې اوښکې راغلې او عرض يې وکړ:

اللهُ ورَسوُلُهُ اَعَلَمُ

الله او دهغه رسول زيات پوهيږي

يعنې چا چـې پـه بـدر کـې ګـډون کـړی هغـه هيڅکله منافق نشي کيدای، هغوی دالله تعـالی پـه لاره کې هغه قرباني او فدارکاري کړې چـې دعـرش حاملين او مقربين ملائک هم هغوی سرپکې سـيالي نشي کولی او هرڅـوک چـې دالله او دهغـه درسـول مقابلې ته راغلل که هغـه يـې پـلار و، يـاځوی ، ورور او يـا ملګـری ورسره بيدريغـه وجنګيـدل او دالله تعالی او دهغه درسول په نشه کې دومره مخمـور او ننوتي وو چې دخپلوانـو څخـه بيګانـه شـول او دالله تعالی کلمه يې لوړه کړه او دکفـرو شرک پـه سر يـې

دومره قوي ګذارونه وکړل چې ټپونه به يې هيڅکله جوړنشي

ددې عظيم الشاني کارنامې په صله کې دالله تعالى د دربار څخه رضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ او د أولئك كتب في قلوبهم الإيمان زرين مډال هغوى ته ورکول شوى اوپه راتلونکي کې چې دکومو ګناهونو دصدور امکان وو هغه يې دماضي په صيغه کې بيان کړيعني فقد غفرت لكم، دمضارع (مستقبل) صيغه (فسأغفرلكم) يې رانه وړه، څو دبدريانو (مغفورالذنوب) والى قطعى او محقق شي چې دهغوى مغفرت دماضي پشان امرمحقق او يقيني دى اود« اعملوا ما شئتم » خطاب ورته تشريفاً او اکراماً دى، اشاره پکې ديته ده چې که هغوى هرڅه وکړي خو هيڅکله اوپه هيڅ حال کې د(مغفرت او عفوې) له دايرې څخه نه بيرون کېږي او دا خطاب(اعملوا ما شئتم)دګناهونو داباحت او اجازت لپاره ندى دمولانا ادريس کاندهلوي په تعبير داسې خطاب هغو محبينو او مخلصانوته کېږي چې دهغوى څخه دخپل محبوب معصيت او دهغه نافرماني ناممکن وي

نوموړى وړاندي ليکي:

په بدرکې ګډون او هلته جهاد په ظاهره يوه حسنه ده، خو په حقيقت کې دزرګونو او د لکونو حسناتو اجمال اوعنوان دى او دايمان و احسان، دصدق واخلاص يوسند دى بناً که په بدرکې ديو شريک شوي صحابي نه دبشريت په مقتضا کومه تيروتنه شوې هغه د رَّضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ او د أولئك كتب في قلوبهم الإيمان څخه بهر کېږي نه،زکه دا دهغه عليم وخبير خبر دى چې ددروغو امکان يې نشته، په دې وجه الله تعالى ته دامعلومه وه چې دهغوى نه به تيروتنې کېږي خو بيا به هم هغوى د رضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ دامتياز او شرف نه برخمن وي نو معلومه شوه چې ددې عظيم الشانه حسنې وروسته د هغوى څخه هيڅ داسې تيروتنه نه کېږي چې هغه يې دغه لويه نيکې محوه کړي بلکې دالويه حسنه دهغوى دراتلونکو تيروتنو لپاره هم کفاره ګرځي کماقال تعالى:

إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ

ژ: بيشکه نيکى ګناهونه محوه کوي

او يو شاعر هم څومره ښه ويلي:

وَاِذَا الحَبِيب اَتى بِذنبٍ واحد

جَاءَت مَحَاسِنُه بِاَلفِ شَفِيع

ژ: که ددوست نه کله کومه تيروتنه وشې دهغه پخوانى کارنامې زرګونه سفارشونه راوړي اوپه مخ کې ودريږي.

نوربيا...



جنګي جنايتونه (جنـــوري)

سید سعید

د ۲۰۱۹ز،کال د جنوري دمیاشتې په ۲مه نیټه دهرات ولایت د شینډنډ ولسوالۍ په سیاسار سیمه کې دیرغلګرو په ډرون حمله کې دوه ولسي وګړي شهیدان شوي دي.

د جنـوري پـه ۲مـه د میـدان وردګ ولایـت دسیداباد ولسوالۍ په علم خیلو، ملاخیلو اوزمبورک کلیو باندې یرغلګرو چاپه وهلې، دکورونو دروازې یې په بمونو الوزولې، دوه نفره ملکي هیوادوال یې شهیدان کړي او شپږ تنه یې بندیان کړي دي.

دجنوري پـه ۳مـه دبـادغیس ولایـت دمرغـاب ولسـوالۍ د اسـحاقزو پـه سیمه کـې دداخـلي عسـکرو دتوپچي په ډزو کې یوه دارالحفـاظ کـې پنځـه حافظـان شهیدان شوي دي.

د جنـوري پـه ۳مـه دهلمنـد ولایـت دسـنګین ولسـوالۍ پـه شرافـت سیمه کـې یرغلګـرو او داخـلي عسـکرو دچاپې پـه مهـال دملکـي وګړو ۱۳ دوکانونـه چور او سوځولي دي.

د جنوري په ۵مه دکنـدهار ولایـت دشـاولیکوټ ولسوالۍ دلوړ شـاولیکوټ پـه اډه کـې اشـغالګرو بمبـار کړی، په بمبار کې شپږ تنې میرمنې او اووه کسـان نارینـه شهیدان او درې تنه ټپیان شوي دي.

د جنـوري پـه ۶مـه دفاریـاب ولایـت دالمـار ولسـوالۍ مرکـز کـې دیرغلګـرو پـه ډرون بریـد کـې یـو ملکي وګړی(حاجي عبدالحکیم) شهیدشوی دی.

دجنـوري پـه ۶مـه د غـزني ولایـت دده یـک ولسوالۍ په بالای کلي کـې ګډو ځواکونـو دچاپې پـه مهال دوه ولسي وګړي شهیدان کړي دي.

د جنـوري پـه ۷مـه د هلمنـد ولایـت دګرشـک ولسوالۍ د نهرسراج دګـوبن پـه سیمه کـې د یرغلګـرو دبې پیلوټه الوتکي په بریـد کې یـو ماشـوم شـهید شـوی دی.

د جنوري په ۷مه دهلمند ولایت دگرمسیر ولسوالۍ په سفار سیمه کې یرغلگرو او حکومتي ځواکونو دخلکو پر کورونو چاپه وهلې،گډو ځواکونو دچاپې په مهال دبازار لسگونه دوکانونه ، دبرک دمؤسسي-یوکلینک او دملکي خلکو لسگونه نقیله وسایط ویجاړ کړي او دوه تنه ډاکتران ، یوه ښځه او دوه عام وگړي یې شهیدان کړي دي. دځایې خلکو په وینا په دې چاپه او بمبار کې پرځاني زیان سربیره د ۴۰ ملیونه افغانیو معادل تاوان ورته رسیدلی دی .

دجنوري په ۸مه د کونړ ولایت د سرکاڼو ولسوالۍ دگنجگل په شیروگي سیمه کې دداخلي عسکرو دهاوان په ډزو کې دوه تنه ملکي وگړي شهیدان شوي دي.

د جنوري په ۱۱مه د ارزگان ولایت د مرکزترینکوټ د خانقې او مراباد په سیموکې دطالبانو او یرغلگرو ترمنځ له نښتې وروسته، دیرغلگرو په بمبار کې څلور تنه ملکي وگړي شهیدان شوي او خلکو ته زیات مالي زیان هم اوښتی دی.

د جنوري په ۱۲مه د بادغیس ولایت دجوند ولسوالۍ د پنج بز په سیمه کې یرغلگرو او داخلي عسکرو چاپه وهلې،د کورونو دروازې ماتې کړې او لس تنه ملکي هیوادوال یې شهیدان کړي دي.

د جنوري په ۱۲مه د پکتیکا ولایت دارگون ولسوالۍ په دره سیمه کې داخلي کمانډویانو چاپه وهلې،پنځه تنه ملکي وگړی یې شهیدان کړي او خلکو ته یې لوی مالي تاوان رسولی دی.

د جنوري په ۱۴مه د زابل ولایت دشاجوی ولسوالۍ دگاجوی سیمې دلوبو په میدان یرغلگرو ډرون حمله کړې،په یاده شوې حمله کې دوه ځوانان شهیدان شوي دي.

د جنوري په ۱۴مه یرغلگرو او داخلي ځواکونو د ارزگان ولایت مرکز ترینکوټ د محمدنبي خان په ښارگوټي چاپه وهلې، پنځه ویشت تنه ملکي وگړي یې بندیان کړي او دوه کسان یې شهیدان کړي دي. همداراز گډو ځواکونو په دغه چاپه کې دولسي-خلکو ۳۶ دوکانونه (چې کتب خاني،پي سي او پوټوکاپي، د خوراکي توکو او پرزه جاتو دوکانونه وو-۱ دتېلو پمپ، ۱کلینک او لسگونه نقلیه وسایط په بشپړ توگه سوځولي دي.

د جنوري په ۱۵مه د فاریاب ولایت دشیرین تگاب ولسوالۍ د فیض اباد او کوه صیاد په سیموکې د داخلي عسکرو دهاوان په ډزو کې اووه تنه ولسي وگړي شهیدان او ټپیان شوي دي.

د جنوري په ۱۵مه دهرات ولایت دشینډنډ ولسوالۍ د عزیز اباد په سیمه کې یرغلگرو او حکومتي عسکرو په یوه دیني مدرسه(نورالمدارس) چاپه وهلې، زده کونکي یې له مدرسې ایستلي اوبیایې دمدرسې ودانۍ له ټولو کتابونو او درسي توکو سره ویجاړه کړې ده.

د جنوري په ۱۶مه دکندهار ولایت د میوند ولسوالۍ د سره بغل کانتینر بازار او لوی کاریز سمو کي اشغالگرو او حکومتي قواوو له طالبانو سره ترجگړې

وروسته دښځو او کوچنيانو په ګډون شل تنه ملکي هيوادوال شهيدان او څلور تنه ټپيان کړي دي.

د جنوري په ۲۲مه د ميدان وردګ ولايت د سيداباد ولسوالۍ په بلند کاش سيمه کې اشغالګرو درې تنه ملکي وګړي شهيدان کړي دي.

د جنور ي په ۲۲مه د پکتيا ولايت دزرمت ولسوالۍ په سهاکو سيمه کې ګډو ځواکونو يو ملکي وګړی شهيد کړی او دولسي-خلکو درې موټر يې سوځولي دي.

دجنوري په ۲۲مه د ميدان وردګ ولايت مرکز د کهنه خمار سيمې په کنډا غره کې يرغلګرو شپږ تنه ولسي وګړي چې ښکار يې کاوه شهيدان کړي دي.

د جنوري په ۲۳مه دهلمندولايت دسنګين ولسوالۍ د زاړه بازار په سيمه کې يرغلګرو او حکومتي ځواکونو بمبار کړی، په دغه بمبار کې دميرمنو او کوچنيانو په ګډون اووه لس تنه ملکي وګړي شهيدان او پنځه تنه ټپيان شوي دي.

د جنوري په ۲۳مه دهلمند ولايت دسنګين ولسوالۍ د چرخکيانو مانده د دوبندي په سيمه کې يرغلګرو يوه کمپيوټري الوتکه چې له چاوديدونکو توکيو يې ډکه کړي وه، دملکي خلکو له يوه کورسره جنګولې چې له املې يې درې تنه ماشومان شهيدان اودوه زخميان شوي دي.

د جنوري په ۲۴مه د ميدان وردګ ولايت د جغتو ولسوالۍ په کنج جغتو کلي کې ګډو ځواکونو دچاپې په مهال دوه تنه عام کليوال شهيدان او درې کسان اسيران کړي دي.

دجنوري په ۲۶مه ګډو ځواکونود ارزګان ولايت دمرکزترينکوټ په پای ناوه چاپه وهلې،اته تنه ملکي هيوادوال يې شهيدان کړي، شپږ يې بنديان کړي، يو مسجد او څو کورونه يې ويجاړ کړي او تر شل زيات د ملکي وګړو نقليه وسايط يې سوځولي دي.

د جنوري په ۲۷مه د ننګرهارولايت د حصارک ولسوالۍ په کلاګۍ سيمه کې اشغالګرو او حکومتي عسکرو دچاپې په مهال دوه ولسي وګړي شهيدان کړي او خلکو ته يې پراخ مالي تاوان رسولی دی.

د جنوري په ۳۱مه د فراه ولايت د خاکسفيد ولسوالۍ د هفتادر په سيمه کې يرغلګرو او حکومتي عسکرو چاپه وهلې، دکورونو دروازې يې ماتې کړي، يو ملا امام او څلور طالب العلمان يې شهيدان کړي او دوولس تنه نور ملکي وګړي يې دبنديانو په توګه له ځان سره وړي دي.

د جنوري په ۳۱مه د هلمند ولايت دسنګين ولسوالۍ دچرخکيانو مانده د دوبندي په سيمه کې د اشغالګرو په ډرو ن حمله کې پنځه تنه ولسي-وګړي چې په يو موټر کې سپاره وو، شهيدان شوي دي.

د جنوري په ۳۱مه دهرات ولايت د پشتون زرغون ولسوالۍ د زمان اباد کلي کې يرغلګرو او حکومتي ځواکونو د طالبانو سره ترجګړې وروسته درې تنه ملکي وګړي شهيدان کړي او ګڼ نور يې بنديان کړي دي.

مأخذونه :[بي بي سي راډيو،ازادي = ،افغان اسلامي اژانس، پژواک = ،خبريال ويبپانه ،لراوبر= ،نن ټکی اسيا=اوبينوا]

د مورچل ویښې

سپینه جنده

ازادی

فکرمل طالب

آزادی ته! د دې وخت داسې نازولې ناوې
چه استقبال ته دې شیندلي مونږ په لارسرونه

زماطالب زوم دې پرېکړی ده عوض دمهر
نوردې وړ نه وینم شیرینې درخسارسرونه

ستا ودول او خپلول هرچاته خوندورکوي
خوشرائط دې یوځه غواړي دایثارسرونه

رنګ او روغن دې روغ ساتلی طالبي لښکرو
درته ژوندي دې وي همدغه څودکار سرونه

ترخپله وسه موسپما نکړل درځارمو کړل
نور مو وتلي لښونې زیاتي له شمار سرونه

دفکرمل طالب له کوره پرته سخته به شي
چه څوک دې وساتي اونازدرکړي شهکارسرونه

اکرام الدین مفتون

چې په کوم وخت مو په هبواد سپینه جنده رپېده
ټوله نړۍ مو له اثره ډارېده رپېده

هغه افغان اوس په خپل کلي کې سرتیتی ګرځي
چې په ډیلي او اصفهان به یې شمله رپېده

د مسلمان د ملک مې داسې باچا هم ولیده
چې د کافر عسکر په مخکې یې تنه رپېده

دغه ماشوم شهید د کوم جرم ثبوت لرلو؟
چې یې په قبر نیمه سوې سیپاره رپېده

هاغه ګودر هم د شهیدې په نامه یادیږي
چې پرې د پاسه سره په وینو لوپټه رپېده

وحشي عسکرو ترې د ورور په باب پوښتنې کړلې
یوه ماشومه خور سلګو کې غږېده رپېده

مفتونه! ما چې د مظلوم ولس داستان لیکلو
قلم مې اوښکې تویولې کتابچه رپېده

الجهاد

عُقابي جانان

له لمانځه او له روژې يې قيمتي يوه لمحه ده
هم له حج او له زکات نه يې بهتره يوه شپه ده
الجهاد ـــــ الجهاد

جهاد کړی انبیاوو، هم سپېځلو صحابه وو
قتال في سبيل الله د اسلام لويه فريضه ده
الجهاد ـــــ الجهاد

د جهاد د جنګ غبار، دی نجات له سره انګار
له دنيا او ما فيها ځينې افضله يې پېره ده
الجهاد ـــــ الجهاد

کړې دفاع د دين اسلام، لري دومره لوړ مقام
دا د کفر او اسلام نه ختميدونکې معرکه ده
الجهاد ـــــ الجهاد

د مظلوم ملت نصرت، ده اسره زمونږ د امت
توره، ډال مونږ ته راپاتې د اسلافو نشانه ده
الجهاد ـــــ الجهاد

الجهاد مو دی شعار، همدا کار همدا مو لار
"عُقابي جانانه" کړې مو خپل رب سره وعده ده
الجهاد ـــــ الجهاد

د آزادۍ ناوې

عمر خالد شهيد تقبله الله

د آزادۍ ناوې په لاره ده راځي وطن ته
کران مجاهد طالب طالب غازي غازي وطن ته

ټاکلی مهر د سرونو يې پوره دی پخير
شرعي نظام به بيا له ځان سره راوړي وطن ته

طالب زلمو يې په غرور باندې نخرې وکړلې
زړه به رابښه نکړي نور هيڅکله پردي وطن ته

دا څه عجيبه فلسفه ده، عجيبه عاشقان
له خپلو وينو ډدي خالونه په تندي وطن ته

د خزانونو دا ترخې سيلۍ به ورکې کړي رب
ببرته به راشي مست خوشبويه پسرلي وطن ته

پکې پيدا شو، پکې لوی شو پرې شهيد به هم شي
"عُمر" ببنلې ده تمامه زندګي وطن ته

۲۰۱۹ زکال

د جنوري د میاشتې جهادي خبرونه



د هلمند په ګرمسیر کې د اشغالګرو د وحشت یوه نمونه چې ۱۶ ماشومان او میرمنې پکې شهیدان شول

په هیوادکې داسلامي امارت د مسلحو ځواکونو لیکې ورځ تربلې قوت مومي

MORCHAL

Islamic, Jihady , Educational and Cultural Monthly Journal